د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# رياضي

## پنځم ټولګی



$\frac{۱}{۲} = \frac{۲}{۴} = \frac{۴}{۸}$

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش

Ketabton.com

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونكو د روزنې
او د ساينس د مركز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
كتابونو د تاليف لوی رياست

# رياضي

## پنځم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.



ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

## لیکوالان:

سرمؤلف امان الله د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی.

سرمؤلف الحاج عبدالله شاه د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی.

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## پوهنې وزارت:

- سرمؤلف عبدالکبیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت آمر.
- سر مؤلف عبدالنبي واحدي د پوهنې وزارت سلا کار
- دوکتور ننګیالی ارسلا د پوهنې وزارت سلاکار
- سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی.
- رسام: محمد غالب "الله یار"

## ژباړونکی:

د مؤلف مرستیال سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت علمي غړی.

مختار نوید د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت کار کوونکی.

**اډیټور:** محمد عزیز تحریک او سر مؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د غړي.

## د محتوا، دیني او سیاسي فرهنګي برخو د څېړنې او بررسۍ کمیته:

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.

## د تحقیق او تدقیق د څارنې کمیته:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**کمپوز او ډیزاین:** سید نسیم خلیق او حمیدالله غفاري



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

**د پوهنې د وزير پيغام**

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



ketabton.com - The Digital Library

# لیک لړ

## لومړی څپرکی


| ګڼه | سرلیکونه | مخونه |
|---|---|---|
| ۱ | د څو رقمي عددونو د جمع او تفریق عملیې | ۱ |
| ۲ | تفریق | ۴ |
| ۳ | د جمع د عملیې آزموینه | ۷ |
| ۴ | د جمعې په عملیه کې د تبدیلي، اتحادي او صفر خاصیت | ۱۱ |
| | **دوهم څپرکی** | |
| ۵ | د ضرب او تقسیم عملیې او د حسابي عملیو خاصیتونه | ۱۵ |
| ۶ | پر درې رقمي عدد د څو رقمي عددونو وېش | ۱۹ |
| ۷ | د څو رقمي عددونو وېش پر څو رقمي | ۲۱ |
| ۸ | د ضرب او تقسیم د عملیو امتحان د یو او بل په واسطه | ۲۲ |
| ۹ | د ضرب په عملیه کې د (۱) او صفر خاصیت | ۲۵ |
| | **دریم څپرکی** | |
| | **د هندسې مبحث** | |
| ۱۰ | نقطه، قطعه خط (ټوټه خط) | ۳۴ |
| ۱۱ | نیم خط (شعاع، مستقیم خط) | ۳۵ |
| ۱۲ | د مستقیم خط حالت (قایم خط، افقي خط او مایل خط) | ۳۶ |
| ۱۳ | موازي، متقاطع او منطبق خطونه | ۳۷ |
| ۱۴ | منحني خط | ۳۹ |
| ۱۵ | د زاویې ډولونه: حاده الزاویه، قایمه الزاویه او منفرجه الزاویه | ۴۰ |
| ۱۶ | د زاویې د اندازه کولو واحد | ۴۲ |
| ۱۷ | مجاورې زاویې | ۴۵ |
| ۱۸ | مجاوره مکمله زاویې، مکمله زاویې | ۴۶ |
| ۱۹ | متممه مجاوري زاویې، متممې زاویې | ۴۷ |
| ۲۰ | متقابل براس زاویې | ۴۸ |
| ۲۱ | مستقیمه زاویه | ۴۹ |
| ۲۲ | مثلث | ۵۰ |
| ۲۳ | د مثلث ډولونه: د زاویو له مخې | ۵۱ |
| ۲۴ | د مثلث ډولونه د ضلعو له مخې | ۵۳ |
| ۲۵ | مضلع، د مضلع قطر | ۵۶ |
| ۲۶ | مستطیل | ۵۸ |
| ۲۷ | مربع | ۵۹ |
| ۲۸ | دایره، د دایرې مرکز، د دایرې محیط او شعاع | ۶۰ |
| ۲۹ | د دایرې قطر او وتر | ۶۱ |
| ۳۰ | د مکعب مستطیل پېژندنه | ۶۴ |
| ۳۱ | د مکعب پېژندنه | ۶۵ |




ketabton.com - The Digital Library

## څلورم څپرکی
### تر ټولو لوی مشترک قاسم او تر ټولو کوچنی مشترک مضرب


۳۲ د تقسیم قابلیت پر ۲، ۳، ۶ ........ ۶۶
۳۳ د تقسیم قابلیت پر ۵، ۱۰ ........ ۶۸
۳٤ د قاسم او مضرب د مفهوم پېژندنه ........ ۷۱
۳۵ د اولیه او غیر اولیه عددونو پېژندنه ........ ۷۴
۳۶ د دوو یا څو عددونو مشترک قاسم او تر ټولو لوی مشترک قاسم ........ ۷۶
۳۷ د دوو یا څو عددونو مشترک مضرب او تر ټولو کوچنی مشترک مضرب ........ ۷۸
۳۸ د تقسیم په طریقه د ذواضعاف اقل پیدا کول ........ ۸۲


## پنځم څپرکی
### عام کسر او څلور ګونې عملیې یې


۳۹ د عام کسر پېژندنه ........ ۸۴
۴۰ د صفر سره مساوي کسرونه ........ ۸۵
۴۱ د یو (۱) څخه لوی کسرونه ........ ۸۹
۴۲ واقعي او غیر واقعي کسرونه ........ ۹۱
۴۳ معادل کسرونه ........ ۹۵
۴۴ د عام کسر اختصار ........ ۱۰۰
۴۵ د کسرونو پرتله کول ........ ۱۰۶
۴۶ د هغو کسرونو مقایسه چې صورتونه یې مساوي وي ........ ۱۰۷
۴۷ د عام کسر تصحیح او غیر واجب کول ........ ۱۱۲
۴۸ د عام کسرونو جمع چې مختلف مخرجونه ولري ........ ۱۱۶
۴۹ د عام کسر جمع د ذواضعاف اقل په واسطه ........ ۱۱۸
۵۰ د عام کسرونو جمع چې صحیح عددونه ولري ........ ۱۲۰
۵۱ د عام کسرونو تفریق چې مختلف مخرجونه ولري ........ ۱۲۴
۵۲ د عام کسر تفریق د ذواضعاف اقل په واسطه ........ ۱۲۵
۵۳ د عام کسر تفریق چې صحیح عددونه ولري ........ ۱۲۷
۵۴ د صحیح عدد ضرب په کسر او د کسر ضرب په صحیح عدد کې ........ ۱۳۱
۵۵ د کسري عددونو ضرب په کسري عدد کې ........ ۱۳۵
۵۶ د کسري عددونو ضرب چې صحیح عددونه ولري ........ ۱۳۹
۵۷ د کسري عددونو تقسیم پر صحیح عدد ........ ۱۴۳
۵۸ د صحیح عدد تقسیم پر کسري عدد ........ ۱۴۴
۵۹ د کسري عدد وېش پر کسري عدد ........ ۱۴۷
۶۰ کسر الکسر او په ساده کسر یې بدلول ........ ۱۵۲
۶۱ د کسر الکسر جمع او تفریق ........ ۱۵۵
۶۲ د کسر الکسر ضرب او تقسیم ........ ۱۶۱




ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د څو رقمي عددونو د جمع او تفریق عملیې

**موخه:** زده کوونکي جمع د هم جنسو شیانو د جمع کولو په مفهوم سره وپېژني.
څو رقمي عددونه د څو رقمي عددونو سره جمع کړای شي.

په تېرو ټولګیو کې مو د عددونو جمع کول زده کړي دي. وموليدل چې د یویز عددونو لاندې د یویز عددونه او د لسیز عددونو لاندې د لسیز عددونه .... او ملیارد عددونو لاندې د ملیارد عددونه لیکل شوي او سره جمع شوي دي. لکه په لاندې مثال کې:

لومړی مثال:

(١) (١) (١) (١)
٨٦٧٥٤٢ ← د جمع لومړی جزء
\+ ٢٤٩٧٦٣ ← د جمع دویم جزء
١١١٧٣٠٥ ← د جمع حاصل

دوهم مثال:

(١) (٢) (١) (١)
٤٢٣٨٩١
١٨٩٣٢٠
\+ ٨٤١٥
٦٢١٦٢٦

**فعالیت:**

د ٨٧٦٤٢٣١ او ١٠٧٠٦٤٢ عددونه د لاندې جدول په اړوند مرتبو او طبقو کې ولیکئ.

| د یویزو طبقه | | | د زریزو طبقه | | | د ملیونو طبقه | | | د ملیاردو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| یویز | لسیز | سلیز | زریز | لس زریز | سل زریز | ملیون | لس ملیون | سل ملیون | ملیارد | لس ملیارد | سل ملیارد |
| | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | |



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## تمرین:

**۱–لاندې عددونه جمع کړئ.**

```
  ۴۰۰۳۰۰۵        ۷۶۰۰۹۳        ۱۲۷۶۴
   ۲۵۰۶۸۰        ۹۰۹۹۰۸        ۹۰۸۶۵
+    ۱۷۶۴         ۳۲۵۴۲      +  ۱۳۲۶
---------      +   ۱۱۷۰      -------
               ---------
```

**۲– لاندې تش ځایونه په مناسبو ارقامو سره ډک کړئ.**

```
   ۶□۴۳۷          ۴□□۷۲
+  ۸۹۶□۸       +  ۱۵۳□۸
--------       --------
 ۱□۰۱۰۵          □۸۴۵۰
```

**۳– لاندې عددونه د مرتبو او طبقو په پام کې نیولو سره جمع کړئ.**

| | | | |
|---|---|---|---|
| الف – | ۳۲۹۶۰۱ | او | ۲۸۰۶۲ |
| ب – | ۱۳۲۵۱ | او | ۵۰۰۸۹ |
| ج – | ۹۰۰۰۶۴ | او | ۸۷۶۴۲ |
| د – | ۶۴۲۵۳۷ | او | ۶۸۷۵۳ |

**کورنۍ دنده:**

لاندې عددونه جمع او تش ځایونه په مناسبو رقمونو سره ډک کړئ.

```
   ۷۶□۰□۵          □۱۵□۳۰
+  ۹۰۸۴۷۶       +  ۸۰۸۱۸□
---------       ---------
 □۶□۰۴۸□         □۰□۳۲۱۴
```

## عبارتي پوښتنې

۱ – فرهاد يو موټر په ۸۰۷۰۷۰ افغانۍ او يو کمپيوټر په ۷۵۶۰۰ افغانۍ او يو موټرسايکل يې په ۱۲۳۰۰ افغانۍ وپيرودل. معلوم کړئ چې فرهاد، د څو افغانيو پيرودنه کړې ده؟

۲–که چېرې د کندهار او هرات ترمنځ د سړک اوږدوالی ۵۸۸ کيلو متره، د کابل او کندهار تر منځ د سړک اوږدوالی ۵۵۰ کيلو متره وي د کابل او هرات ترمنځ د سړک اوږدوالی معلوم کړئ؟

۳–که چېرې د بلخ ولايت د نفوسو شمېر ۲۳۴۵۱۳۰ تنه وي، د هرات ولايت د نفوسو شمېر ۱۴۰۷۳۰۲ تنه او د کابل د نفوسو شمير ۳۴۰۰۸۰۰ تنه وي د درې واړو ولايتونو د نفوسو شمېره به څو تنه وي؟

۴–که چېرې د ننګرهار په ولايت کې د يوه کال د ډيزلو تېلو لګښت ۸۷۶۴۳۰۰ ليتره وي د بغلان په ولايت کې ۶۸۶۴۲۳۵ ليتره او د کابل په ولايت کې ۶۴۳۰۲۰۰۰ ليتره وي د درې واړو ولايتونو د ډيزلو لګښت په يوه کال کې معلوم کړئ!

## فعاليت:




پورته شکل په پام کې ونيسئ، يو عبارت ورته جوړ کړئ، او د کابل – بلخ تر منځ واټن معلوم کړئ.

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې څلور پر له پسې ۴ رقمي عددونه وليکي او له هغه وروسته دې د څلور واړو عددونو د جمعې حاصل معلوم کړي.



ketabton.com - The Digital Library

## تفريق:

**موخه:** زده کوونکی د تفريق عمليه د هم جنسو شيانو د کمولو په مفهوم وپيژني او د تفريق عمليه سر ته ورسولای شي.

ګرانو زده‌کوونکو! د تفريق عمليه مو لوستې ده، اوس يې بيا لږ څه يادونه کوو. د تفريق په عمليه کې د عددونو د مقامي ارزښت بايد په پام کې ونيول شي. هغه عددونه چې يو ډول(عيني) مرتبې لري له يو بل لاندې راځي او بيا وروسته د تفريق عمليه سر ته رسېږي د مثال په توګه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۸۶۷۶۴ | ۷۰۰۸ | ۸۴۶ | ← مفروق منه |
| - ۳۸۹۸۵۷ | - ۶۸۵۲ | - ۳۵۳ | ← مفروق |
| ۹۶۹۰۷ | ۱۵۶ | ۴۹۳ | ← د تفريق حاصل |

## فعاليت:

زده‌کوونکي دې د ۷۸۶۴ عدد او د ۹۶۴۳۲ عدد داسې وليکي چې د تفريق عمليه سر ته ورسولی شي او هغه حل کړي او له حل څخه وروسته دې مفروق منه، مفروق او حاصل تفريق هم وښيي.

### کورنۍ دنده:

۱- که چېرې مفروق ۸۶۷۴۱۴۶ او مفروق منه ۹۱۱۱۱۱۱۱ وي د تفريق حاصل معلوم کړئ.

۲- آيا له کوچني عدد څخه لوی عدد تفريق کولای شئ؟ که يې نشئ کولای ولې؟



ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

۱– زده‌کوونکي دې لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل کړي. وروسته دې په درې ګروپونو وویشل شي د هرې پوښتنې د تفریق حاصل دې له یو بل سره پرتله کړي. ودې ګوري چې چا سم او صحیح حل کړي دي، هغو زده‌کوونکو چــې اشتباه کړې ده خپلې اشتباه ګانې دې د ګروپونو په واسطه حل کړي.

| | |
|---|---|
| ۸۶۴۲۹۱ | ۹۶۴۳۲۲ |
| - ۳۱۷۶۲۸ | - ۱۴۸۰۸ |
| ۶۰۱۰۲۳۴ | ۱۷۶۴۹۷۶۲ |
| - ۱۸۷۹۳۲۱ | - ۸۶۴۲۵۳۱ |

۲– په لاندې تشو ځایونو کې د (<، > ،=) نښې له مثالونوسره سم تطبیق کړئ؟

۳۰۴–۲۵ [ < ] ۱۶۷–۶۸

۲۷۹    ۹۹

۷۶–۲۷ [ ] ۸۹–۳۶

۷۷۸–۶۴ [ ] ۳۷۲۱–۸۶۴

۱۹۶–۲۰ [ ] ۶۷۴۳–۱۵۶۷

**کورنۍ دنده:**

که چېرې د شپږ رقمي له کوچني عدد څخه د ۴۰۵۰ عدد تفریــق کــړو حاصل به یې څو وي؟



ketabton.com - The Digital Library

## عبارتي پوښتنې

۱– مزمل ۲۷۶۳ افغانۍ درلودې. هغه وغوښتل چې یو بایسکل واخلي، که چېرې د یوه بایسکل بیه ۳۷۲۰ افغانۍ وي مزمل به څو نورو افغانیو ته اړتیا ولري، چې بایسکل وپېرودلی شي؟

۲– ښوال له خپلو حاصلاتو څخه ۱۷۴۴۲۰ افغانۍ تر لاسه کړې که چېرې د سرې، درملو او ښېل بیه یې ۹۷۶۴۱ افغانۍ وي د نومورې ښوال ګټه معلومه کړئ؟

۳–د دوو سوداګرو سرمایه ۸۹۷۶۴۲۳۷ افغانۍ ده که چېرې د یوه سوداګر سرمایه ۸۷۶۳۲۵۷ افغانۍ وي د هغه بل سوداګر سرمایه به څومره وي؟

۴–ملیحه له کریمې څخه ۳۷۸۹۶ افغانۍ زیاتې لري که چېرې د کریمې پیسې ۱۳۲۴۶ افغانۍ وي د ملیحې پیسې به څومره وي؟

۵–فاروق د خپل تعمیر په جوړولو کې ۳۴۷۶۱۲۰ افغانۍ لګولي دي که چېرې نوموړی تعمیر په ۲۳۸۴۶۵۰ افغانۍ وپلوري فاروق به څو افغانۍ تاوان وکړي؟

**کورنۍ دنده:**

له ۶۸۹۷۶ عدد څخه کوم عدد کم شي چې د ۱۷۸۴۱ عدد پاتې شي؟



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# د جمع د عمليې ازموينه:

**موخه:** زده کوونکي د تفريق د عمليې په کارولو سره د جمع عمليه وازمايلی شي.

**لاندې مثال ته پام وکړئ.**



۲۰ = ۴ + ۱۶



۱۶ = ۴ - ۲۰



۴ = ۱۶ - ۲۰

د پورتني مثال له حل څخه داسې نتيجه تر لاسه کېږي چې:
د دې لپاره چې د جمع عمليه مو سمه سرته رسولې ده که نه؟
د جمع له حاصل څخه د جمع يو جز (يوه برخه) تفريق کوو که چېرې د تفريق حاصل د جمع له بل جزء سره مساوي وي نو عمليه سمه او صحيح ده.

## فعاليت:

زده‌کوونکي دې له پورتني مثال څخه کار واخلي لاندې پوښتنې دې جمع کړي او وروسته دې وازموي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹۷۶۴۰۰۲ | ۳۴۵۶ | ۱۲۶ | ۴۵ |
| + ۱۰۸۷۵ | + ۱۶۷۵ | + ۲۱۰ | + ۶۵ |

## کورنی دنده:

- تر ټولو لوی دوه رقمي عدد له کوچني دوه رقمي عدد سره جمع کړئ او وروسته يې وازموئ؟
- مخامخ عددونه جمع او وازموئ؟

$$\begin{array}{r} 789102 \\ +\ 164005 \\ \hline \end{array}$$

ketabton.com - The Digital Library

**د تفریق د عملیې ازموینه:**

**موخه:** زده کوونکي د جمع د عملیې څخه په کار اخیستلو سره باید د تفریق د عملیې له سموالي څخه ډاډه شي.

مثال:



۶ = ۱۳ - ۱۹

آزموینه:



او یا:

مفروق منه = مفروق + د تفریق حاصل

۱۹ = ۱۳ + ۶

مفروق = د تفریق حاصل - مفروق منه

۱۳ = ۶ - ۱۹

له پورتنیو مثالونو څخه داسې نتیجه تر لاسه کوو چې:

د دې لپاره چې پوه شو چې د تفریق عملیه سمه سرته رسیدلې ده که نه؟

په دوو ډولونو سره د هغه آزموینه کوو:

۱– د تفریق حاصل له مفروق سره جمع کوو که چېرې د جمعې حاصل یې لــه مفروق منه سره مساوي شي، د تفریق عملیه سمه ده

۲– له مفروق منه څخه د تفریق حاصل تفریق کوو که چېرې د تفریق حاصل‌یې له مفروق سره مساوي وي د تفریق عملیه سمه ده.

## فعالیت:

زده‌کوونکي دې لاندې پوښتنې په ګروپونو کې حل کړي او وروسته دې وازموي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷۶۵۴۳۲۱۳ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۷۶۴۳۰۱۰۵ | ۶۷۴ | ۳۵ |
| ۱۲۳۴۵۶۷ - | ۲۱۲۳۴۹ - | ۹۸۷۰۷۰۶ - | ۱۸۵ - | ۱۸ - |

## تمرین:

۱–لاندې پوښتنې حل او امتحان کړئ.

| | |
|---|---|
| ۹۷۶۴۳۲۱ | ۶۷۴۳۰۲ |
| + ۱۰۵۰۲۰۸ | + ۱۷۸۶۰۰ |
| ۱۰۰۰۰۰۰۰۰۰ | ۱۵۱۶۱۷۱۸۰ |
| − ۹۸۷۶۴۲۱ | − ۹۸۷۶۴۲۹۳ |

۲– د لاندې پوښتنو تش ځایونه د (<، >، =) نښو په واسطه ډک کړئ؟

۹۸۹+۸۷۶ ☐ ۱۹۱۶−۱۲۰

۹۹۹۹−۶۸۴ ☐ ۷۶۴+۳۲۵

۴۸۴۲۳+۲۰۰۰۰ ☐ ۶۸۴۲۳ - ۰

۳– هرې پوښتنې ته څلور ځوابونه ورکړل شوي دي په خپلو کتابچو کې صحیح ځواب ولیکئ.

– که چېرې مفروق د تفریق له حاصل سره جمع شي څه لاسته راځي؟

الف: د جمع حاصل، ب: مفروق، ج: مفروق منه، د: هیڅ یو

– که چېرې د جمع له حاصل څخه د جمع یو جزء تفریق شي څه لاس ته راځي؟

الف: مفروق لاسته راځي. ب: مفروق منه لاسته راځي.

ج: د تفریق حاصل لاسته راځي. د: هیڅ یو.

### کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنه حل او وازموئ.

۸۷۶۴۲۳۰۱

− ۹۸۷۸۹۹۲



ketabton.com - The Digital Library

## عبارتي پوښتنې

۱- په يوه بڼ کې ۱۸٦۷۴ ونې کېنول شوې دي د مختلفو پېښو له امله يو شمېر ونې وچې شوې. که چېرې په بڼ کې ۹٦۷۲ ونې پاتې شوې وي معلوم کړئ چې څومره ونې وچې شوې دي؟

۲- هغه کوچنی عدد چې د ٦، ۵، ۳، ۷ عددونو څخه لاسته راځي له هغه لوی عدد څخه تفريق کړئ چې له همدغو عددونو څخه لاسته راځي؟

۳- له ۷۸۹٦ عدد څخه کوم عدد تفريق شي چې د ۳۸٦۴ عدد پاتې شي؟

۴- له ۳، ۴، ٦، ۵ څلور رقمي عددونو څخه د هغوی لوی او کوچنی عدد وليکئ او له يو بل څخه يې تفريق کړئ د تفريق حاصل معلوم کړئ؟

**کورنۍ دنده:**

چوکات کې د ننه عدد معلوم کړئ.

۱٦۷۴۲۳ - [ ] = ۹۷۴۲۳

۹۹٦۸۷۰۰۱ - [ ] = ۸۹۰۱۰۱۰۵



ketabton.com - The Digital Library

## د جمع په عمليه کې د بدلون(تبديلي)، اتحاد او صفر خاصيتونه:

**موخه:** زده کوونکي د جمع په عمليه کې د تبديلي، اتحاد او صفر خاصيتونه وپېژني او د اړتيا په وخت کې ترې کار واخلي.

**الف:** **د جمع په عمليه کې د بدلون خاصيت:**

**لاندې مثالونو ته پام وکړئ.**

لومړی:
١٢ + ٩ = ٢١

يا:
٩ + ١٢ = ٢١

نو ليکلای شو چې:
١٢ + ٩ = ٩ + ١٢ = ٢١

دوهم:
٣٢٧ + ٨٥ = ٤١٢

يا:
٨٥ + ٣٢٧ = ٤١٢

نو له دې امله:
٣٢٧ + ٨٥ = ٨٥ + ٣٢٧ = ٤١٢

د پورتنيو مثالونو له حل څخه کولای شو چې وليکو:

که چېرې د جمع په عمليه کې د جمع د اجزاوو ځايونه يو له بله سره بدل شي د جمع په حاصل کې کوم بدلون منځ ته نه راځي. دا خاصيت د جمع د بدلون په نامه يادېږي.

**ب:** **د جمع په عمليه کې د اتحاد خاصيت:**

١ – لاندې شکل ته پام وکړئ.



( ٣ + ٦ ) + ٤ = ٣ + ( ٦ + ٤ )

٩ + ٤ = ٣ + ١٠

١٣ = ١٣

پورتنی حل شوی مثال داسې هم ليکلی شو:

( ٤ + ٣ ) + ٦ = ٧ + ٦ = ١٣



ketabton.com - The Digital Library

**۲- غواړو چې د ۵، ٦، ۱۴ عددونه سره جمع کړو.**

(۶+۱۴) +۵ = (۵+۱۴) +۶ = (۵+۶) +۱۴

۲۰ +۵ = ۱۹ +۶ = ۱۱ +۱۴

۲۵ = ۲۵ = ۲۵

**۳- غواړو چې د ٦٧، ۸۵ او ۱۰۲ عددونه سره جمع کړو.**

(۱۰۲ + ۶۷) + ۸۵ = (۱۰۲ + ۸۵) + ۶۷ = ۱۰۲ + (۸۵ + ۶۷)

۱۶۹ + ۸۵ = ۱۸۷ + ۶۷ = ۱۰۲ + ۱۵۲

۲۵۴ = ۲۵۴ = ۲۵۴

**د پورتنیو مثالونو له حل څخه لاندې پایله تر لاسه کولای شو.**

**که چېرې د جمع په یوه عملیه کې د جمع اجزاوي له دوو جزوو څخه زیات وي په خپله خوښه د جمع دوه جزء جمع کولای شو او بیا یې د جمع له بل جزء سره جمع کوو. دغه خاصیت ته د جمع په عملیه کې د اتحاد خاصیت وايي.**

**ج: د جمع په عملیه کې د صفر خاصیت:**

**لاندې مثال ته پام وکړئ.**

۳۲۷ + ۰ = ۳۲۷ , ۰ + ۱۷ = ۱۷

۰ + ۶۲۴ = ۶۲۴ , ۹۵ + ۰ = ۹۵

**د پورتنیو مثالونو له حل څخه دا نتیجه اخلو چې :**

**که چېرې له یوه عدد سره صفر یا صفر له یوه عد سره جمع کړو د جمع حاصل پخپله هماغه عدد دی. دغه خاصیت ته د صفر خاصیت د جمع په عملیه کې وايي.**

## فعالیت:

**د جمع په عملیه کې د تبدیلۍ له خاصیت څخه په کار اخستلو سره په لاندې تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.**

۳۱۵ + ☐ = ☐ + ۷۶۳ , ☐ + ۶۸ = ۶۸ + ۶۵۹

☐ + ۲۱۵ = ☐ + ۸۹۸ , ۹۸ + ☐ = ۳۲۸ + ☐



ketabton.com - The Digital Library

– د جمع په عمليه کې له اتحادي خاصيت څخه په کار اخيستلو سره په لاندې شکلونو کې د هغوی افاده ترتيب او ساده يې کړئ.



– د جمع په عمليه کې د اتحاد له خاصيت څخه په کار اخيستلو د لاندې ورکړل شوو عددونو افاده په شکل کې ونبياست.

(۴ + ۵) + ۶ = ۴ + (۵ + ۶)

**کورنۍ دنده:**

ـــ د جمع په عمليه کې د بدلون د خاصيت په پام کې نيولو سره په تش ځايونو کې مناسب عددونه وليکئ.

۱۳۶ + □ = □ + ۳۲۷ ، □ + ۳۱۲ = □ + ۶۲۷

ـــ د جمع په عمليه کې د اتحادي خاصيت په پام کې نيولو سره تش ځايونه په مناسبو عددونو ډک کړئ.

۵۲۴ + ( ۱۲۷ + □ ) = ( □ + □ ) + ۳۵۳

( □ + ۴۳۷۲ ) + ۶۷۲۱ = ۲۴۳ + ( □ + □ )

**تمرين:**

۱– د لاندې پوښتنو په تش ځايونو کې مناسب عددونه وليکئ.

۰ + ۱۸۵۲ = ۱۸۵۲ + □ ، ۶۷۲ + ۱۰۶۹ = ۱۰۶۹ + □

( ۹۸ + ۵۲ ) + □ = ۹۸ + ( □ + ۳۷ ) ، ۶۵۷۳۲۱ + ۰ = □ + □

(۴۳۵ + ۹۸) + □ = ۴۳۵ + ( □ + ۳۸۰)



ketabton.com - The Digital Library

( ۲۰ + □ ) + ۶۲ = □ + ( ۳۸ + ۶۲ )

( □ + ۴۳ ) + ۱۷ = ۳۵ + ( ۴۳ + □ )

( □ + ۵۳ ) + ۹۱ = ۲۸ +( ۵۳ + □ )

( ۸۸ + ۹۳ ) + □ = ۸۸ + ( □ + ۶۸ )

( ۳۲۵ + □ ) + ۲۱۵ = ۳۲۵ + ( ۴۳ + □ )

**۲- د جمع په عمليه کې د اتحادي خاصيت په پام کې نيولو سره د لانـــدې شکلونو له مخې د هغوی افاده ترتيب او حل يې کړئ.**





**۳- د جمع په عمليه کې د اتحادي خاصيت په پام کې نيولو سره لاندې ورکړل شوې افادې په شکلونو کې وښياست؟**

( ۶ + ۵ ) + ۴ = ۶ + ( ۵ + ۴ )

۳ + ( ۷ + ۲ ) = ( ۳ + ۷ ) + ۲

**کورنۍ دنده:**

که چېرې ټولې پوښتنې په ټولګي کې حل نشي، پاتې پوښتنې په کور کې حـــل کړئ.



ketabton.com - The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د ضرب او تقسیم عملیې او د حسابي عملیو خاصیتونه

### د څو رقمي عددونو ضرب له څو رقمي عددونو سره:

**موخه:** زده کوونکي څو رقمي عددونه له څو رقمي عددونو سره ضرب کړای شي.

**لاندې مثالونو ته پام وکړئ.**

**لومړی مثال:** لومړی پړاو:

د ضرب د دوهم جز د یویز رقم د ضرب د لومړی جز په رقمونو کې ضربوو او حاصل یې تر خط لاندې لیکو.

| | | |
|---|---|---|
| ۶۳ | ← | د ضرب لومړی جزء |
| × ۴۲ | ← | د ضرب دویم جزء |
| ۱۲۶ | ← | ۶۳ × ۲ – لومړی پړاو |
| + ۲۵۲ | ← | ۶۳ × ۴ – دوهم پړاو |
| ۲۶۴۶ | ← | د ضرب‌حاصل |

**دوهم پړاو:**

د ضرب د دوهم جز د لسیز رقم د ضرب د لومړي جز په ټولـــو رقمونو کې ضربوو دغه حاصل هم تر خط لاندې د لیکل شوي رقم د لسیز تر مرتبې لاندې پیل او په ترتیب سره لیکو اوس تر خط لاندې لیکل شوي دواړه حاصل یو له بل سره جمع کوو په دې صورت کې د دوه رقمي عددونو د ضرب حاصل لــــه دوه رقمي سره حاصـــل کېږي.

**دوهم مثال:** د پورتني مثال په څېر عمل کوو.

د ضرب د دوهم جزء د مرتبو ټول رقمونه د ضرب د لـــومړي جزء په رقمونو کـــې ضربـــوو او د هـــرې مرتبې د ضرب حاصل د هماغې ضرب شوې مرتبې لاندې په ترتیب سره لیکو له هغه وروسته د ضرب حاصلونه له یو بل سره جمع کوو.

| | | |
|---|---|---|
| ۳۶۴ | ← | د ضرب لومړي جزء |
| × ۶۲۲ | ← | د ضرب دویم جزء |
| ۷۲۸ | ← | ۳۶۴ ×۲ - لومړی پړاو |
| ۷۲۸ | ← | ۳۶۴ ×۲ - دوهم پړاو |
| + ۲۱۸۴ | ← | ۳۶۴ × ۶ - دریم پړاو |
| ۲۲۶۴۰۸ | ← | ۶۲۲ × ۳۶۴ د ضرب حاصل |



ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

زده‌کوونکي دې د پورتنیو مثالونو په کارولو سره لاندې مثالونه حل کړي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۱۲ × ۲۱۳ | ۴۶۴ × ۱۰۲ | ۹۸ × ۶۵ | ۶۴ × ۲۳ |
| ۹۷۳ × ۱۰۰ | ۹۰۰ × ۷۰ | ۱۰۶ × ۷۰۹ | ۷۶۲ × ۱۰۵ |

**کورنۍ دنده:**

لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | |
|---|---|
| ۱۲۳ × ۱۵ | ۴۳۲ × ۱۲۳ |



ketabton.com - The Digital Library

## له څو رقمي عددونه سره د څو رقمي عددونو ضرب:

| | | |
|---|---|---|
| | | ۴۰۲۳ |
| | | × ۷۱۰۵ |
| (۱) | ۴۰۲۳ × ۵ | ۲۰۱۱۵ |
| (۲) | ۴۰۲۳ × ۰ | ۰۰۰۰ |
| (۳) | ۴۰۲۳ × ۱ | ۴۰۲۳ |
| (۴) | ۴۰۲۳ × ۷ | + ۲۸۱۶۱ |
| | د ضرب حاصل | ۲۸۵۸۳۴۱۵ |

د پورتنیو مثالونو له حل څخه لاندې پایله تر لاسه کوو چې:

له څو رقمي عددونو سره د څو رقمي عددونو په ضرب کې د ضرب د دویم جــزء هر رقم د ضرب د لومړي جز په ټولو رقمونو کې په ترتیب سره ضربوو او د ټولو د ضرب حاصل سره جمع کوو.

**فعالیت:**

د لاندې عددونو د ضرب حاصل معلوم کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۷۱۰۶ | ۳۰۵۰۶ | ۷۶۴۲ |
| × ۹۵۷ | × ۲۷۱۳ | × ۱۰۷۴ |

**کورنۍ دنده:**

د درکړل شوو عددونو د ضرب حاصل معلوم کړئ.

| | |
|---|---|
| ۷۴۳۲ | ۳۰۷۰۶ |
| × ۱۷۰۵ | × ۴۱۲۳ |



ketabton.com - The Digital Library

## د صفر لرونکو عددونو ضرب:

که چېرې د ضرب د لومړي جز او دوهم جز ښي خواته او یا یو جز د هغو څخه ښي خواته یو یا څو صفرونه ولري باید لومړی غیر صفري عددونه ضرب کړو او په پای کې د ضرب د لومړي او دوهم او یا د یوې خوا ټول صفرونه د ضرب د حاصل ښي خواته کېږدو.

**لومړی مثال:**

```
  ٧٠
× ٦٠
-----
   ٠٠   ←  لومړی: ٠ × ٧٠
+٤٢٠
-----
 ٤٢٠٠  د ضرب حاصل
```

په دویم واړي څرنګه چې٦ د لسیزو په مرتبه کې دي په ٧٠ کې ضربوو او لیکو: ٦ × ٧٠

که چېرې د ضرب حاصل ته پاملرنه وشي لیدل کېږي چې په حقیقت کې (٦×٧) ضرب شوي دي او د ضرب د حاصل ښي خواته د لومړي جز او دوهم جز د صفرونو په شمېر، صفرونه لیکل شوي دي چې پورتنی مثال په لنډه توګه داسې لیکلای شو.

```
  ٧٠
× ٦٠
-----
 ٤٢٠٠
```

په دې مثال کې په لومړي وار ٧ له ٦ سره ضرب شوی دی، چې حاصل یې ٤٢ کېږي او بیا د لومړي جز او دوهم جز دوه صفرونه د ٤٢ ښي خواته لیکل شوي دي. چې په حقیقت کې د ضرب حاصل ٤٢٠٠ کېږي. یعني: ٦٠×٧٠ = ٤٢٠٠ شول.

**دوهم مثال:**

```
   ١٣٠
× ٤٠٠
------
 ٥٢٠٠٠
```



## کورنۍ دنده:

د لاندې عددونو د ضرب حاصل ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| ٣٥٠٠ × ٤٠٠٠ | ٤٠٠٠ × ٥٠٠٠ | ٨٤٠٠٠ × ٩٠٠٠ |



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## په درې رقمي عددونو باندې د څو رقمي عددونو وېش:

**موخه:** زده کوونکي په درې رقمي عددونو باندې د څو رقمي عددونو وېش وکړای شي.

(۱) مثال: د ۴۷٦۲۳ عدد د ۲۳۵ په عدد باندې وویشئ:

مقسوم ← ۴۷۶۲۳ | ۲۳۵ → مقسوم علیه
خارج قسمت →

په لومړي وارې د مقسوم کیڼ لورې ته درې رقمونه له مقسوم علیه سره پرتله کوو. لیدل کېږي د مقسوم درې رقمي عدد تر مقسوم علیه څخه لوی دی اټکل کوو چې ۲۳۵ عدد څو مرتبې د ۴۷٦ په عدد کې شامل دی. د مثال په توګه اټکل کوو چې دوه مرتبې شاملې دي. د ۲ عدد په خارج قسمت کې لیکو د ۲۳۵ په عدد کې یې ضربوو او حاصل یې د ۴۷٦ عدد لاندې لیکو او له ۴۷٦ عدد څخه یې تفریق کوو.

۴ ۷ ۶ ۲ ۳ | ۲۳۵
-۴ ۷ ۰ ↓ | ۲
۰ ۰ ۶ ۲

لیدل کېږي چې د تفریق حاصل د ٦ عدد دی په مقسوم کې تر ٦ عدد د مخه د ۲ عدد دی د ۲ عدد را کښته کوو د ٦ د عدد ښي خواته یې لیکو ٦۲ کېږي چې له مقسوم څخه کوچنی دی دا چې په مقسوم علیه نه وېشل کېږي نو لدې امله په خارج قسمت کې صفر ږدو او بیا له مقسوم څخه د ۳ عدد هم راکښته کوو د ۲ عدد ښي خواته یې ږدو چې ٦۲۳ شي او ٦۲۳ په مقسوم علیه وېشل کېږي.

۴ ۷ ۶ ۲ ۳ | ۲۳۵
-۴ ۷ ۰ ↓ ↓ | ۲۰
۰ ۰ ۶ ۲ ۳

اوس اټکل کوو چې د ۲۳۵ عدد څو مرتبې په ٦۲۳ کې شامل دی. د مثال په توګه وایو چې د ۳ عدد ټاکل شوی دی کله چې د ضرب عملیه سر ته رسوو ۷۰۵ لاسته راځي ګورو چې له مقسوم څخه لوی دی. نو ښه ده چې د ۲ عدد په کې ضرب کړو او د تفریق عملیه سرته ورسوو. د تفریق حاصل ۱۵۳ کېږي څرنګه چې له مقسوم علیه څخه کوچنی دی نو ۱۵۳ پاتې کېږي.

۴۷۶۲۳ | ۲۳۵

-۴۷۰ | ۲۰۲

۶۲۳

-۴۷۰

۱۵۳ ← پاتي

**دوهم مثال:**

مقسوم ← ۱۷۶۴۳۲ | ۳۰۵ ← مقسوم علیه

خارج قسمت ←

که چېرې پورته مثال ته پام وکړو لیدل کېږي چي د مقسوم کیڼ لور ته درې رقمي عددونه له مقسوم علیه څخه کوچنی دی نو باید د مقسوم کیڼ خواته څلور رقمي عددونه په پام کې ونیسو او د وېش عملیه د (۱)مثال په څېر سرته ورسوو.

۱۷۶۴۳۲ | ۳۰۵

۱۵۲۵ | ۵۷۸

۲۳۹۳

-۲۱۳۵

۲۵۸۲

-۲۴۴۰

۱۴۲ ← پاتي

**فعالیت:**

زده‌کوونکي دې په ګروپونو کې له پورتني مثال څخه په کار اخیستلو سره د وېش عملیه سر ته ورسوي خارج قسمت او پاتي دې معلوم کړي.

۸۶۴۷۵۱ | ۱۱۱

۷۶۴۲۳۵۰ | ۱۰۲

۷۸۶۴۲۳۱۲۴ | ۶۸۷

۱۲۰۷۶۴۲۰۰ | ۷۰۰

**کورنۍ دنده:**

د وېش عملیه سر ته ورسوئ.

۷۶۴۲۵ ÷ ۲۰۰ = ?

۶۴۲۳ ÷ ۱۲۲ = ?



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## له درو ځخه په زياتو عددونو باندې د څو رقمي عددونو وېش:

**موخه:** زده کوونکي له درو ځخه په زياتو عددونو باندې د څو رقمي عددونو په وېش پـــوه او سر ته يې ورسوي.

لاندې مثال ته پام واړوئ.

```
 ۴۳۲۵۰ | ۲۰۴۱
 ۴۰۸۲  |------
 -----   ۲۱
  ۲۴۳۰
 -۲۰۴۱
 -----
   ۳۸۹
```

### فعاليت:

زده‌کوونکي دې د پورتنيو مثالونو له وېش ځخه په کار اخيستلو سره په ګروپونو کې د لاندې پوښتنو وېش سر ته ورسوي.

۴۲۱۳۵ | ۲۰۵　　　　۹۴۱۷ | ۷۰۰۸

۸۶۱۴ | ۳۰۱۲　　　　۹۱۰۵ | ۲۲۲۲

**کورنۍ دنده:**

ـــ د ۳۸۴ عدد په ۸۹ کې ضرب کړئ د ضرب حاصل په ۳۸۴ ووېشئ او خارج قسمت له ۸۹ سره پرتله کړئ.

ـــ لاندې پوښتنې حل کړئ.

۲۵۷۰۵ | ۸۰۱۰　　　　۷۲۵۶ | ۲۲۵

# د ضرب او وېش د عمليو ازموينه د يو بل په واسطه:

## د ضرب ازموينه:

**موخه:** د وېش له عمليې څخه په کار اخيستلو سره د ضرب د عمليې له سم او صحيحوالي څخه ډاډ تر لاسه کړای شي.

د دې له پاره چې پوه شو چې د ضرب عمليه مو په صحيح توګه سر ته رسولې ده او که نه؟ د ضرب حاصل د ضرب څخه په يوه جزء باندې ووېشي پدې ډول چې د ضرب بل جزء لاس ته راشي. لکه لاندې مثال:

آزموينه:

```
  ٣٢٤
× ٤٥
-----
 ١٦٢٠
١٢٩٦
-----
١٤٥٨٠
```

```
١٤٥٨٠ | ٣٢٤
١٢٩٦  |-----
-----  | ٤٥
 ١٦٢٠
 ١٦٢٠
-----
 ٠٠٠٠
```

په پورته مثال کې د ضرب حاصل ١٤٥٨٠ دی د ضرب په يوه جزء ٣٢٤ باندې وېشل شوی دی لاسته راغلی حاصل د ضرب بل جزء ده. په عمومي ډول داسې ليکلی شو.

| | |
|---|---|
| د ضرب حاصل | = د ضرب دويم جزء × د ضرب لومړی جزء |
| د ضرب دويم جزء | = د ضرب لومړی جزء ÷ د ضرب حاصل |
| د ضرب لومړی جزء | = د ضرب دويم جزء ÷ د ضرب حاصل |

## فعاليت:

١ – که چېرې د ضرب حاصل ١٢٨٧٥٠ وي او د ضرب يو جزء ١٢٥ وي. زده‌کوونکي دې د ضرب بل جزء معلوم کړي.

٢–که چېرې د ضرب لومړی جزء ٢٦٥ د ضرب دوهم جزء ١٧٥ وي. د ضرب حاصل معلوم کړئ.

**کورنۍ دنده:**

که چېرې د ضرب دويم جزء ٩٦ او د ضرب حاصل ١٢٦٧٢ وي د ضرب لومړی جزء معلوم کړئ؟



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د وېش د عمليې ازموينه:

**موخه:** زده کوونکي وکړای شي د ضرب له عمليې څخه په کار اخېستلو سره د وېش د عمليې د سر ته رسولو له صحيح والی څخه خپل ډاډ تر لاسه کړي.

د دې لپاره چې پوه شو د وېش عمليه صحيح سرته رسېدلې ده که نه؟
مقسوم عليه په خارج قسمت کې ضربوو پاتې ورسره جمع کوو که چېرې حاصل شوی عدد له مقسوم سره مساوي وي نو عمليه صحيح ده.

مثال:

```
٣١٠٨٩٦ | ٧٦٢
٣٠٤٨    |-----
------  | ٤٠٨
٠٠٦٠٩٦
  ٦٠٩٦
------
  ٠٠٠٠
```

آزموينه

```
     ٧٦٢
   × ٤٠٨
  ------
    ٦٠٩٦
    ٠٠٠
  ٣٠٤٨
  ------
  ٣١٠٨٩٦
```

په پورته مثال کې مقسوم عليه ٧٦٢ او خارج قسمت ٤٠٨ دی دواړه له يو بله سره ضربوو يعنې د ضرب حاصل (٣١٠٨٩٦) دی او له مقسوم سره مساوي دی له دې امله د تقسيم عمليه صحيح ده نو ليکلای شو چې:

| |
|---|
| خارج قسمت = مقسوم عليه ÷ مقسوم |
| مقسوم = پاتې + خارج قسمت × مقسوم عليه |

### فعاليت:

_ که چېرې مقسوم (٦٧٤٢١)، مقسوم عليه (١٠٣) وي خارج قسمت معلوم کړئ او وازموئ؟

_ که چېرې مقسوم عليه (٦٤٥) او خارج قسمت (١٩٨) وي مقسوم معلوم کړئ؟

## تمرین:

لاندې پوښتنې حل او امتحان کړئ؟

۱- ۹۱۳۸ × ۲۱۰ = ?

۲- ۷۳۰ × ۲۴۵۰ = ?

۳- ۴۵۶ × □ = ۵۶۰۸۸

۴- ۸۹۷۶۲ ÷ ۱۳۵ = ?

۵- ۹۷۰۴۳۲ ÷ ۲۰۴ = ?

۶- ۷۳۰۰۴۱ ÷ ۴۱۴۰ = ?

۷- □ × ۲۵۸ = ۹۵۲۰۲

۸- ۸۴۲۵ × ۴۷۹ = ?

۹- □ ÷ ۲۲۵ = ۶۷۴

۱۰- ۲۴۱۱۱۰ ÷ □ = ۷۰۵

۱۱- که چېرې د ۱۲ قلمونو بیه ۱۲۰ افغانۍ وي د ۱۵ قلمونو بیه به څو افغانۍ وي؟

۱۲- که د یوه جریب ځمکې قیمت ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ وي د ۱۰۶ جریبو ځمکې بیه به څو افغانۍ وي؟

۱۳- که یو موټر ۱۸۷۵ کیلومتره واټن په ۱۶ ساعتونو کې ووهي نوموړي موټر په یوه ساعت کې څو کیلو متره واټن وهلی دی؟

۱۴- که یو زده‌کوونکی ۱۳ کتابچو ته اړتیا ولري د ۱۳۴۵۱۰۰ زده‌کوونکو لپاره څو کتابچو ته اړتیا ده؟

۱۵- که چېرې په یوه شپه او ورځ کې د یوه ښار د برېښنا لګښت(مصرف) ۵۰۳۰ کیلو واټه وي د نوموړي ښار د یوې میاشتې د برېښنا لګښت به څومره وي؟

**کورنۍ دنده:**

۱- که مقسوم علیه ۱۲۶ او خارج قسمت ۵۸ وي مقسوم څه ډول پیدا کولی شئ؟

۲- د وېش د عملیې د آزمولو لپاره څه وکړو؟



ketabton.com - The Digital Library

## د ضرب په عمليه کې د يوه او صفر خاصيت:

**موخه:** – زده کوونکي پوه شي هر عدد چې په يوه کې او يا(۱) چې په هر عدد کې ضرب شي د ضرب حاصل يې په خپله هم هغه عدد دی.

– زده کوونکي پوه شي هر عدد چې په صفر کې او يا صفر چې په هر عدد کې ضرب شي د ضرب حاصل يې صفر کېږي.

**الف:** په ضرب کې د (۱) د عدد خاصيت:

۱ + ۱ + ۱ + ۱ + ۱ + ۱ = ۶

۶ × ۱ = ۶

۱ × ۶ = ۶

**ب:** په ضرب کې د صفر خاصيت:

۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰ = ۰

۶ × ۰ = ۰

۰ × ۶ = ۰

### فعاليت:

**۱** – تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۰ | ۰ | | | | ۰ | | | | ۰ | | | |
| ۱ | ۱ | | | | ۵ | | | | ۹ | | | |



ketabton.com - The Digital Library

## ۲ – په تشو ځايونو کې مناسب عددونه وليکئ.

۱ × ۷۳۴۱۵ = □ ، ۳۷۶۴ × ۱ = □

□ × ۷۶۲۱ = ۷۶۲۱ ، ۹۴۰۰ × □ = ۹۴۰۰

۶۷۵۴ × □ = ۰ ، □ × ۹۳۲۱ = ۰

□ × ۱۷۶۴۲ = ۰ ، ۹۴۷۶۱ × ۰ = □

**کورنۍ دنده:**

د جمع افادې په ضرب واړوئ او حاصل يې وليکئ.

۱ + ۱ + ۱ + ۱ + ۱ + ۱ = --- × --- = ---

۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰ = --- × --- = ---



ketabton.com - The Digital Library

## د ضرب په عمليه کې د بدلون (تبديلي) او اتحاد خاصيت او د جمع په عمليه کې د ضرب توزيعي خاصيت:

**موخه:** زده کوونکي د ضرب په عمليه کې د بدلون (تبديلي) او اتحاد خاصيت او همدارنګه د جمع په عمليه کې د ضرب توزيعي خاصيت وپېژني او د اړتيا په وخت کې ترې کار واخلي.

**الف: په ضرب کې د بدلون(تبديلي) خاصيت:**

لاندې مثالونو ته پام وکړئ:

۱- ۱۲ × ۵ = ۶۰

۵ × ۱۲ = ۶۰

نو: ۱۲ × ۵ = ۵ × ۱۲ = ۶۰

۲- ۱۰۵ × ۶ = ۶۳۰

۶ × ۱۰۵ = ۶۳۰

نو: ۱۰۵ × ۶ = ۶ × ۱۰۵ = ۶۳۰

له پورته مثالونو څخه ليکلای شو چې:

که چېرې په ضرب کې د ضربي اجزاوو ځايونه بدل شي د ضرب په حاصل کې کوم بدلون نه راځي. دغه خاصيت ته د ضرب د عمليې د تبديلۍ خاصيت وايي.

**فعاليت:**

زده‌کوونکي دې په ضرب کې د تبديلۍ خاصيت څخه په کار اخيستلو سره تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډک کړي.

۱- ۶۴ × □ = ۶ × □ = ۳۸۴

۲- □ × ۹ = ۷۲ × □ = ۶۴۸

۳- □ × ۷۰۶ = ۸ × □ = ۵۶۴۸

**کورنۍ دنده:**

تشې ځايونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ؟

۷ × ۲۳ = □ ‏ ‏ ‏ ۲۳ × ۷ = □

۱۶۱ = □ × ۷ = □ × ۲۳ يا



ketabton.com - The Digital Library

**ب: د ضرب په عملیه کې اتحادي خاصیت:**

لاندې شکلونو ته پام وکړئ.





څنګه چې لیدل کېږي:

$۲ \times (۴ \times ۳)$ $\qquad$ $(۳ \times ۲) \times ۴ =$

$۲ \times ۱۲ = ۲۴$ $\qquad$ $۶ \times ۴ = ۲۴$

نو لدې امله لیکلای شو چې:

$$(۲ \times ۳) \times ۴ = ۲ \times (۴ \times ۳) = ۲۴$$

دوهم مثال: د ۸ ، ٦ او ۹ عددونه داسې ضربوو:

$(۸ \times ۶) \times ۹ = ۴۸ \times ۹ = ۴۳۲$

$۸ \times (۶ \times ۹) = ۸ \times ۵۴ = ۴۳۲$

$۶ \times (۸ \times ۹) = ۶ \times ۷۲ = ۴۳۲$

نو لدې امله:

$$(۸ \times ۶) \times ۹ = ۸ \times (۶ \times ۹) = ۶ \times (۸ \times ۹) = ۴۳۲$$

د پورتنیو مثالونو له حل څخه لیکلی شو:

د درو عددونو په ضرب کې لومړی اول او دوهم عددونه ضربوو بیا وروسته نومړی حاصل د ضرب په دریم عدد کې ضربوو یا دا چې د ضرب دوهم او دریم عددونه ضربوو او بیا د ضرب حاصل یې په لومړي عدد کې ضربوو یا که چېرې اول او دریم عدد ضرب کړو د ضرب حاصل په دوهم عدد کې ضربوو.

په دریو واړو حالاتو کې د هغوی ضرب هماغه یو عدد کېږي. دغه خاصیت په ضرب کې د اتحادي خاصیت په نامه یادېږي.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

په ضرب کې له اتحادي خاصیت څخه په کار اخیستنې سره، تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

(۶ × ۷) × ۹ = ۶ × (۷ × ☐ ) = ۷ × ( ☐ × ۹)

۵ × ۴ × ۳= ☐ × (۴ ×۳) = ☐ × (۵ × ۳) = ( ☐ × ۵) × ۳

**کورنۍ دنده:**

په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

۸×۹×۱۰= ۱۰×( ☐ ×۸)=(۱۰×۹)× ☐ = ☐ ×(۱۰×۸)

**ج: د جمع په عملیه باندې د ضرب د عملیې توزیعي خاصیت:**

لاندې شکلونو ته پام وکړئ.



( ۲ × ۳ ) + ( ۲ × ۴ ) =　　　۲ × ( ۳ + ۴ ) =

۶ + ۸ = ۱۴　　　۲ × ۷ = ۱۴

نو لرو چې:

۲ × ( ۳ + ۴ ) = ( ۲ × ۳ ) + ( ۲ × ۴ ) = ۱۴

لومړی مثال: د (۴+۷) د جمع حاصل په لاندې ډول د ۵ په عدد کې ضربوو:

حل: ۵ × ( ۷ + ۴ ) = ۵ × ۱۱ = ۵۵

یا: ۵ × ۷ + ۵ × ۴ = ۳۵ + ۲۰ = ۵۵

نو لدې امله: ۵ × ( ۷ + ۴ ) = ۵ × ۷ + ۵ × ۴ = ۵۵

دوهم مثال: د (۶۰+۱۵۰) د جمع حاصل په لاندې ډول د (۲۰) په عدد کې ضربوو:

حل: ۲۰ × (۱۵۰ + ۶۰) = ۲۰ × ۲۱۰ = ۴۲۰۰

یا: ۲۰ × ۱۵۰ + ۲۰ × ۶۰ = ۳۰۰۰ + ۱۲۰۰ = ۴۲۰۰

نو له دې امله: ۲۰ × (۱۵۰ + ۶۰) = ۲۰ × ۱۵۰ + ۲۰ × ۶۰ = ۴۲۰۰

دریم مثال: د (۱۲+۱۵) د جمع حاصل په لاندې ډول د (۲۲) په عدد کې ضربوو.

حل: ۲۲ × (۱۵ + ۱۲) = ۲۲ × ۲۷ = ۵۹۴

یا: ۲۲ × ۱۵ + ۲۲ × ۱۲ = ۳۳۰ + ۲۶۴ = ۵۹۴

نو له دې امله: ۲۲ × (۱۵ + ۱۲) = ۲۲ × ۱۵ + ۲۲ × ۱۲ = ۵۹۴

له پورتنیو مثالونو څخه لیکلای شو چې:

که چېرې د دوو عددونو جمع او یا یوه مجموعه په یوه دریم عدد کې ضرب کړو، د نوموړې جمع اجزاوې سره جمع او د جمع حاصل یې په دریم عدد کې ضربوو او د ضرب حاصل یې سره جمع کوو. په دواړو حالاتو کې عین عدد حاصلېږي، دغه خاصیت ته د جمع په عملیې باندې د ضرب توزیعي خاصیت وایي.



ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

د جمع په عمليې باندې د ضرب د توزيعي خاصيت څخه په كار اخيستنې سره پــه تشو ځايونو كې مناسب عددونه وليكئ.

$$۳ \times (۴ + ۲۰) = ۳ \times \square + \square \times ۲۰$$

$$۵ \times (۳ + ۴) = \square \times ۳ + ۵ \times \square$$

د لاندې شكلونو له مخې د جمع په عمليې باندې د ضرب د توزيعي خاصيت افــاده وليكئ.



**كورنۍ دنده:**

د ضرب په عمليه كې د اتحادي خاصيت او د جمع په عمليې باندې د ضــرب د تــوزيعي خاصيت څخه په كار اخيستلو سره تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

$$(۶ \times ۸) \times ۱۰ = ۶ \times (\square \times ۱۰)$$

$$(\square \times ۱۷) \times ۹ = \square \times (۱۷ \times ۵)$$

$$۳۰ \times (۵ + ۴) = (۳۰ \times ۵) + (۳۰ \times \square)$$

$$۸ \times (۵۰ + ۹) = (۸ \times \square) + (۸ \times \square)$$



ketabton.com - The Digital Library

## تمرین:

۱– په ضرب کې د تبدیلي له خاصیت څخه په کار اخیستلو سره تش ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

$\square \times ۲۵ = ۲۵ \times \square$

$۱۰۴ \times \square = \square \times ۶۳$

$\square \times ۶۳ = ۱۱۴ \times \square$

۲– د ضرب د اتحادي خاصیت په کارولو سره په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

$(۱۲ \times \square) \times ۱۴ = ۱۲ \times (۸ \times \square) = \square \times (۱۲ \times ۱۴)$

$(۶ \times ۵) \times ۱۴ = \square \times (۵ \times \square) = ۱۴ \times (\square \times ۶)$

$(\square \times ۱۷) \times ۱۰ = \square \times (۱۷ \times ۱۰) = ۱۷ \times (۶ \times \square)$

$(۷ \times \square) \times ۹ = ۷ \times (\square \times ۱۵) = \square \times (۷ \times ۹)$

$(\square \times \square) \times ۶ = \square \times (\square \times ۶) = \square \times (\square \times \square)$

۳– د جمع په عملیه کې د ضرب له توزیعي خاصیت څخه په کار اخیستلو لاندې پوښتنې حل کړئ.

$(۱۰۰ + ۲۰) \times ۵ = ?$

$(۱۰ + ۶) \times ۳ = ?$



ketabton.com - The Digital Library

( ۱۰ + ۸ ) × ۲ = ?

( ۵۰۰ + ۵۰ ) × ۱۰ = ?

( ۲۰۰ + ۵ ) × ۵ = ?

۱ ×( ۱۰۰۰ + ۱۰ ) = ?

۰ × ( ۱۰۰۰ + ۵ ) = ?

**۴– د جمع په عملیه کې د ضرب د توزیعي خاصیت څخه په کار اخیستنې سره په تشو ځایو کې مناسب عدد ولیکئ.**

( ۲۰ + ۴ ) × ☐ = ☐ × ۱۰ + ☐ × ۱۰

( ۳۰ + ☐ ) × ۵۰ = ۳۰ × ☐ + ۲۰ × ☐

۹ × ( ☐ + ۷۰ ) = ☐ × ۶۰ + ۹ × ☐



ketabton.com - The Digital Library

# دریم څپرکی

## د هندسي بحث

موخه: زده کوونکي د ټوټه خط، مستقیم خط، منکسر خط، منحني خط، زاویې او د زاویې د واحد (درجې) په پام کې نیولو سره د هغې په ډولونو پوه شي او جلا جلا یې وپېژني. د اړتیا په وخت کې کـــار ورڅخه واخیستلای شي.

**نقطه** (**ټکی**):

یوه نښه ده چې په کاغذ باندې د پنسل د نرۍ څوکې له اینبودلو څخه منځ ته راځي او د یـــوه توري په واسطه ښودل کېږي لکه د الف نقطه.

(.) الف

او یا که چېرې تا سو د پنسل څوکه ښه نرۍ کړئ او د کاغذ په مخ یې کېږدی هغه نښه چـــې منځ ته راځي هغې ته نقطه وایي او په یوه توري باندې ښودل کېږي.

**قطعه خط** (**ټوټه خط**): د کاغذ پر مخ د دوو نقطو ترمنځ لنډې فاصلې ته ټوټه خط وایي لکه د $(\overline{\text{الف ب}})$ ټوټه خط چې په هغه کې الف ته مبداء او ب ته پای وایي.




## فعالیت:

۱– په خپله خوښه د کاغذ پر مخ دوه نقطې کېږدئ او بیا یې د خط کش او پنسل په واسطه یو ځای کړی او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

الف: هغه شکل چې لاس ته راځي د څه په نامه یادېږي؟

ب: مبدا او پای لري؟

ج: څه ډول ښودل کېږي؟

د: آیا تر لاسه شوی شکل د اندازې وړ دی؟



ketabton.com - The Digital Library

### نیم خط (شعاع):

هغه مستقیم خط ته وایي چې له یوې خوا محدود (تړلی) او له بلې خوا غیر محدود ( خــلاص) وي خلاص لورې ته یې په خپله خوښه امتداد ورکولای شو او په (الف ب) سره ښودل کېږی. لکه لاندې شکل:




### مستقیم خط:

مستقیم خط هغه خط دی چې دواړو خواووته یې امتداد ورکول کېدای شي او اوږدوالی یې اندازه کېدای نه شي. لکه لاندې شکل او د (الف ب) په واسطه ښودل کېږي.




### فعالیت:

لاندې شکلونه وګورئ په خپله کتابچه کې د هغوی د لمبر تر څنګ د هر یوه نوم ولیکئ.




**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې یو مستقیم خط رسم کړي او په هغه باندې دې ټوټه خط، نیم خط او مستقیم خط د دوو تورو په واسطه وښیي.



ketabton.com - The Digital Library

## د مستقیم خط حالت:

مستقیم خط درې حالتونه لري.

۱– افقي خط ۲– عمودي يا قايم خط ۳– مايل خط

## افقي خط:

افقي خط هغه خط ته ويل کېږي چې د اوبو د سطحې په امتداد وي لکه د کور د چت څنډه، د فرش څنډه او د کاغذ پرمخ د (ج ب) خط




## عمود خط يا قايم خط:

هغه خط ته وايي چې په افقي خط باندې دوه قايمې زاويې جوړې کړي.
لکه د (هـ د) خط په (ج ب) باندې




## مايل خط:

هغه خط دی چې نه عمودي وي او نه افقي وي.
لکه د (دهـ) خط، د (ن م) اونور




### فعاليت:

زده کوونکي دې په ګروپونو کې د خطونو ډولونه چې په ټولګي او شيانو کې يې ګوري وښيي.

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې د هغو شکلونو او شيانو نومونه چې افقي، عمود او مايل خطونه څرګند کړای شي وليکي.



ketabton.com - The Digital Library

## ۱- متقاطع خطونه:

که چېرې دوه مستقیم خطونه یوه ګډه (شریکه) نقطه ولري متقاطع خطونه بلل کېږي.

لکه په لاندې شکل کې چې د (هـ) نقطه د (الف ب) او د (د ج) دوو خطونو د تقاطع نقطه ده.




## ۲- موازي خطونه:

هغه خطونه چې مشترکه (شریکه) نقطه ونه لري موازي خطونه بلل کېږي.

لکه په لاندې شکلونو کې



## ۳- منطبق خطونه:

که چېرې دوه مستقیم خطونه دوه ګډې (شریکې) نقطې ولري منطبق خطونه بلل کېږي.

لکه د (ج الف) او (د ب) ټوټه خطونه




### فعالیت:

۱– زده کوونکي دې په خپل تولګي کې موازي، متقاطع او د منطبق خطونو شکلونو وښیي.

۲– زده کوونکي دې د دوو لرګیو په واسطه موازي، متقاطع او منطبق حالتونه وښیي.



ketabton.com - The Digital Library

## پوښتنې:

۱- دوه خطونه یو بل ته څو حالتونه لري؟

۲- موازي خطونه څه ډول خطونه دي؟

۳- متقاطع خطونه څو مشترکې نقطې لري؟

۴- که چېرې دوه خطونه دوه مشترکې نقطې ولري آيا دا خطونه درې مشترکې نقطې درلودلی شي؟

۵- دوه خطونه چې مشترکه نقطه و نه لري په څه نامه يادېږي؟

## د خط ډولونه:

خط په درې ډوله دی.

۱- مستقیم خط ۲- منکسر خط ۳- منحني خط

## مستقیم خط:

بايد په ياد ولرو چې مستقیم خط مو د مخه ولوست.

## منکسر خط:

هغه ټوټه خطونه چې د یوه مستقیم خط په امتداد نه وي خو له یو بل سره مشترکه نقطه ولــري منکسر خط بلل کېږي لکه د ارې غاښونه، دونو د پاڼو څنډې او داسې نور.

## فعالیت:

۱- لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ او منکسر خطونه يې وښياست.






ketabton.com - The Digital Library

۲– شپږ توټه خطونه داسې رسم کړئ چې د يوه خط په استقامت (تګ لوري) نه وي او يو له بل سره مشترکه نقطه ولري.

## منحني خط:

منحني خط هغه خط ته وايي چې نه مستقيم وي او نه منکسر. لکه نوې مياشت، ورو ځه او نور.

لاندې منحني شکلونو ته پام وکړئ.

منحني د دوو تورو په واسطه ښودل کېږي لکه د (الف ب)




## فعاليت:

۱– زده کوونکي دې يوه لښته داسې ماته کړي چې منکسر خط وښيي.

۲– يو تار په دواړو لاسونو کې داسې ونيسئ چې لومړی مستقيم خط او بيا منحني خط وښيي.

۳– د کاغذ پر مخ دوه نقطې داسې له يوې بلې سره ونښلوئ چې توټه خط، منکسر خط او منحني خط په کې وښودل شي.

۴– د کاغذ پر مخ درې نقطې وټاکئ يوه له بلې سره يې ونښلوئ او ووايئ چې کوم ډول خطونه ليدل کېږي.

**کورنۍ دنده:**

په لاندې شکل کې د خطونو ډولونه د تورو په واسطه وښياست.






ketabton.com - The Digital Library

## زاویه:

زاویه هغه شکل دی چې د دوونیم خطونو (شعاعو) په واسطه چې مشترکه نقطه ولري منځ ته راځي. د دواړو نیم خطونو مشترکې مبدا ته د زاویې رأس او هرې شعاع ته یې د زاویې ضلع وایي.




## د زاویې ډولونه:

زاویه په درې ډوله ده.

۱– قایمه زاویه ۲– حاده زاویه ۳– منفرجه زاویه

## ۱- قایمه زاویه:

ګرانو زده کوونکو! تاسو له قایمې زاویې سره د مخه بلدتیا پیدا کړېده او له یوه کاغذ څخه مو قایمه زاویه جوړه کړه او د هغه په واسطه مو قایمه زاویه رسم کړه. نو اوس قایمه زاویه داسې تعریفوو.

**قایمه زاویه:** هغه زاویه ده چې پراخوالی یې $90^\circ$ درجې وي لکه په لاندې شکلونو کې:




## ۲- حاده زاویه:

هره زاویه چې له ۹۰ درجو څخه کوچنۍ وي حاده زاویه بلله کېږي.






ketabton.com - The Digital Library

### ۳- منفرجه زاویه:

هغه زاویه ده چې له ۹۰ درجو څخه لویه وي یا له یوې قایمې زاویې څخه لویه وي. لکه په لاندې شکلونو کې:




### د زاویې ښودنه:

زاویه د درو توړو په واسطه ښوول کېږي. پدې ډول چې د زاویې د رأس توري د لیکلو او لوستلو په وخت کې د نورو دوو توړو په منځ کې راشي.

لکه د (الف $\hat{ب}$ ج) زاویه




### فعالیت:

لاندې شکلونه په ګروپونو کې په پوره دقت سره وګورئ. په هر شکل کې د قایمو، حادو او منفرجو زاویو شمېر معلوم او وې لیکئ.




(الف) شکل




(ب) شکل

**کورنۍ دنده:**

مخامخ شکل په پام کې ونیسئ.

الف: خطونه په کوم نوم سره یادېږي؟

ب: څو زاویې حاده دي؟

ج: څو زاویې منفرجې دي؟





ketabton.com - The Digital Library

## د زاويې د اندازه کولو واحد:

د زاويې د اندازه کولو واحد درجه منل شوې ده. درجه د يوې قايمې زاويې $\frac{۱}{۹۰}$ برخې ته وايي چې علامه يي (°) ده او داسې ښودل کېږي ۲° (دوه درجې) ۲۰° ( شل درجې) ۹۰° (نوي درجې) يا په بل عبارت که چېرې قايمه زاويه په ۹۰ مساوي برخو ووېشو هرې برخې ته يې درجه وايي.

د زاويې د اندازه کولو لپاره يوې آلې ته اړتيا ده چې هغه آله د نقالې په نامه يادېږي.

**نقــــاله:**

هغه آله ده چې زاويې ورباندې اندازه کېږي. نقاله نيمه دايروي شکل لري چې محيط يې په ۱۸۰ برابرو (مساوي) برخو وېشل شوی دی.




په پورته شکل کې د نقالې ۵۰° عدد د (الف ب ج ) زاويې له دويمې ضلعې سره تصادف کوي. نو ويلای شو چې د (الف ب ج) زاويه ۵۰° درجې ده. که چېرې اوس وغواړو د ۴۰° په اندازه زاويه رسم کړو، لومړی يو ټوټه خط رسموو. د بېلګې په توګه د (ن م) ټوټه خط له هغه وروسته په نوموړي ټوټه خط باندې نقاله داسې ايږدو، چې مرکز يې د (م ن) د ټوټه خط د (م) په نقطه باندې منطبق شي او ګورو چې د نقالې د ۴۰ درجې په کومه برخه باندې ده. په فرضي ډول د (ک) نقطه په نښه کوو د (ک) نقطه له (م) سره نښلوو د (ن م ک) زاويه لاسته راځي.









ketabton.com - The Digital Library

## تمرین:

۱– د لاندې زاويو اندازه د نقالې په واسطه پيدا کړئ چې هره يوه يې څو درجې ده؟




۲– د ( ا د ج ) زاويه په پام کې نيسئ.
د خط کش په واسطه د (د الف) ضلع کيڼ
لورې ته تر (هـ) پورې امتداد ورکړئ دغه شکل چې مو رسم
کړ پاملرنه وکړئ او لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست.




الف: (ج د الف) اود (هـ د ج) زاويه د نقالې په واسطه اندازه کړئ؟
ب: د (الف د ج ) اود ( ج د هـ ) زاويو مجموعه څو درجې کېږي؟
ج: د (الف د ج ) او د ( هـ د ج ) زاويې د (الفهـ) د خط کومې خواته پرتې دي.
۳– هغه زاويه چې له ۹۰° څخه لويه وي د څه په نامه يادېږي؟
۴– هغه زاويه چې له ۹۰° درجو څخه کوچنۍ وي د څه په نامه يادېږي؟
۵– ۹۰° زاويه د څه په نامه يادېږي؟
٦– په مخامخ شکل کې څو زاويې ليدل کېږي هر يوه د نقالې په واسطه انـدازه کـړئ او د هغوی مجموعه معلومه کړئ؟




## فعاليتونه:

مخامخ شکل ته وګورئ.
الف: که چيرې د (د س م) زاويې اندازه ۳۰ درجې وي.
د نورو زاويو اندازه د نقالې په واسطه معلومه کړئ؟






ketabton.com - The Digital Library

ب: د (د س م) او (د س ن) د زاويو مجموعه څو درجې ده؟

ج: د (د س م) او (ر س م) د زاويو مجموعه څو درجې ده؟

د: د (د س م) او (ر س ن) د زاويو اندازې سره پرتله کړئ؟

هــ: د (د س ن) او (م س ر) د زاويو په اندازه کې څه ارتباط موجود دی؟

**کورنۍ دنده:**

په مخامخ شکل کې نامعلومې زاويې د نقالې په واسطه اندازه کړئ؟






ketabton.com - The Digital Library

# د مجاورو زاویو، مکملو مجاورو زاویو، مکملو زاویو، د متممو مجاورو زاویو، د متممو او متقابل به راس زاویو پېژندنه:

موخه: زده کوونکي مجاورې زاويې، مکملې مجاورې زاويې، مکملې زاويې، متممې مجاورې زاويې، متممې او مقابل به رأس زاويې وپېژني او يوه له بلې سره تشخيص کړي.

**مجاورې زاويې:**

دوه زاويې چې مشترک رأس، مشترکه ضلع ولري او د مشترکې ضلعې دواړو خواووته پرتې وي د مجاورو زاويو په نامه يادېږي. لکه د (۱) او (۲) زاويې چې د (ب) مشترک رأس او د (ب ج) مشترکې ضلعې لري.




## فعاليتونه:

لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ او پوښتنو ته يې ځوابونه ورکړئ.



۱. کومې زاويې مشترک رأس او مشترکې ضلعې لري؟
۲. کومې زاويې مشترک رأس او مشترکې ضلعې لري او څه نومېږي؟
۳. کومې زاويې مشترکې ضلع لري خو مشترک رأس نه لري؟



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## مکملې مجاورې زاويې او مکملې زاويې:

دوه مجاورې زاويې چې د زاويو د مجموعې اندازه يې $90^\circ$ وي د مکملو مجاورو زاويو په نامه يادېږي.

دوه زاويې چې د زاويو د اندازې مجموعه يې $90^\circ$ وي د مکملو زاويو په نامه يادېږي.

لکه د لاندې شکلونو په څېر چې مکملې مجاورې زاويې او مکملې زاويې په کې ښودل شوې دي.







### فعاليتونه:

يوه قايمه زاويه رسم کړئ، او د نقالې په واسطه يې په $20^\circ$ او $70^\circ$ وويشئ او د الف نوم ورباندې کېږدئ.

دغه راز د $20^\circ$ او $70^\circ$ دوه زاويې جلا جلا رسم کړئ او همدغه دواړه زاويې د ب په نامه ونوموئ اوس لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

۱. دالف او ب زاويو مجموعه په جلا ډول رسم کړئ.

۲. د الف او ب هر يو شکل د څه په نامه يادېږي؟

۳. آيا د ب شکل زاويې مکملې مجاورې زاويې دي که مکملې زاويې؟

**کورنۍ دنده:**

د لاندې شکل زاويې اندازه کړئ د مکملو زاويو جوړې وليکئ.



## متممې مجاورې زاويې او متممې زاويې:

دوه مجاورې زاويې چې د زاويو مجموعه يې ۱۸۰ درجې وي مشترک رأس او مشترکه ضلع ولري د متممو مجاورو زاويو په نامه يادېږي او که چېرې دواړه زاويې مجاورې نــه وي خــو مجموعه ۱۸۰ درجې وي د متممو زاويه په نامه يادېږي لکه په لاندې شکلونو کې:




د (۱) او (۲) متممې مجاورې زاويې




د (۳) او (۴) متممې زاويې

### فعاليتونه:

۱- مخامخ شکل په پام کې ونيسئ د هغو جوړه زاويو پر اخوالی چې اندازه يې ۱۸۰ درجې ده او هم مجاورې له نقالې څخه په کار اخېستنې له نمونې سره سم وليکئ.




$\hat{۱} + \hat{۲} = ۱۸۰^{\circ}$

۲- مخامخ شکل ته پاملرنه وکړئ د نقالې په کارولو سره د ورکړل شوو زاويو پراخــوالی معلوم کړئ او هغه چې مجاورې نه دي خو متممې دي نوم يې واخلئ.




$\hat{۱} + \hat{۲} = ?$

$\hat{۱} + \hat{۳} = ?$

**کورنۍ دنده:**

په مقابل شکل کې د ۱، ۲،۳ زاويې اندازه کړئ وروسته ووايئ چې کومه جوړه يې متممه ده؟






ketabton.com - The Digital Library

## متقابل به راس زاويې:

دوه زاويې چې مشترک رأس ولري د يوبل په امتداد واقع وي متقابل به رأس زاويې بلل کېږي.
متقابل به رأس زاويې سره مساوي دي لکه: د ( ۱، ۲ ) او ( ۳، ۴ ) زاويې.




## فعاليتونه:




لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ او پوښتنو ته ځواب ووایاست.

۱– د ۱ ، ۲ ، ۳، ۴ زاويې په کومو نومونو سره يادېږي؟

۲– د ۱ ، ۲ ، ۳ ، ۴ زاويو اندازه معلومه کړئ؟

۳– د ۱ ، ۲ ، ۳، ۴ زاويو ترمنځ د اندازې له پلوه څه ارتباط موجود دی؟

۴– د څلور واړو زاويو د مجموعې اندازه معلومه کړئ؟

۵– د (ب، الف) او د (ج د) خطونو د تقاطع نقطه کومه ده؟

**کورنۍ دنده:**

په يوه شکل کې متقابل به رأس زاويې وښياست چې ټولې زاويې يې قايمې وي.



ketabton.com - The Digital Library

## تمرین

۱– په لاندې شکل کې د ۳۰ درجې متممو مجاورو زاويو اندازه پیدا کړئ؟




۲– د ۳۰ درجې متقابل به رأس زاويه کومه زاويه ده؟

۳– د ۳۰ درجې متقابل به رأس يې څو درجې ده؟

۴– د لاندې زاويو مکمله زاويه وليکئ؟

$6^{\circ}$ , $23^{\circ}$ , $64^{\circ}$ , $30^{\circ}$

۵– د لاندې هرې يوې زاويې متممه وليکئ؟

$17^{\circ}$ , $33^{\circ}$ , $110^{\circ}$ , $130^{\circ}$

۶– په لاندې شکل کې مکمله او متممې مجاورې زاويې وښياست؟




## مستقيمه زاويه:

هغه زاويه ده چې د مستقيم خط يوې خواته پرته او اندازه يې ۱۸۰ درجې وي لکه په لانـــدې شکل کې:



**کورنۍ دنده:**

په لاندې شکل کې څو متممې مجاورې زاويې او څو مکملې مجاورې زاويې دي وليکئ.






ketabton.com - The Digital Library

## مثلث:

مثلث هغه سطحه ده چې د درو ټوټه خطونو په واسطه احاطه شوې وي.

د مثلث هر خط ته دمثلث ضلع وايي. د دوو ضلعو د نښلېدو نقطې ته د مثلث رأس وايي. هر مثلث درې راسه او درې ضلعې لري.




## د مثلث ښودنه:

مثلث د راسونو د درو تورو په واسطه لوستل کېږي لکه د (الف ب ج) مثلث او داسې ليکل کېږي د (الف ب ج)

## فعاليت:

زده کوونکي دې له خط کش او نقالې څخه کار واخلي د ب په رأس کې دې يوه قايمه زاويه رسم کړي له قايمو ضلعوڅخه دې د (ج) او (د) نقطې د ۳ سانتي مترو او ۴ سانتي مترو په اندازه جلاء کړي او له يو بل سره دې ونښلوي او لاندې پوښتنو ته دې ځواب ووايي.

۱- رسم شوی شکل څه نوم لري؟

۲- رسم شوو ټوټه خطونوهغه سطحه چې د کاغذ له سطحې څخه جلا کړېده د پنسل په واسطه پر داس ورکړئ؟

۳- د ترسيم شوي شکل زاويې د نقالې په واسطه اندازه کړئ او مجموعه يې پيدا کړئ؟

۴- د شکل هر ټوټه خط د دوو تورو په واسطه وليکئ د ( ج د ) ټوټه خط اوږدوالی اندازه کړئ؟

۵- رسم شوی شکل څو راسه لري؟

۶- رسم شوی شکل څه نومېږي؟

### کورنۍ دنده:

زده کوونکی دې يوه منفرجه زاويه رسم کړي د هغې له ضلعو څخه دې په خپله خوښه د (ج) او (د) دوه نقطې وټاکي له يو بل سره دې وصل کړي. د هرې زاويې اندازه دې جلا جلا معلوم کړي. د درو واړو زاويو مجموعه دې معلومه کړي چې څو درجې ده.



ketabton.com - The Digital Library

# د زاويې له مخې د مثلث ډولونه

موخه: زده کوونکي قايم الزاويه مثلث، منفرجه الزاويه مثلث، حاده الزاويه مثلث وپېژني او له يو بل څخه يې تشخيص وکړای شي.

مثلث د زاويو له مخې په درې ډوله دی.

۱– قايم الزاويه مثلث ۲– حاده الزاويه مثلث ۳– منفرجه الزاويه مثلث

## قايم الزاويه مثلث

۱– هغه مثلث چې يوه زاويه يې قايمه وي قايم الزاويه مثلث ورته وايي لکه د (الف ج ب) مثلث چې په هغه کې د ( $\hat{ج}$ ) زاويه يې قايمه زاويه ده او نورې دوه زاويې يې له قايمې زاويې څخه کوچنۍ يعني حاده زاويې دي. لکه لاندې شکل کې




## منفرج الزاويه مثلث:

هر مثلث چې يوه زاويه يې منفرجه وي منفرجه الزوايه مثلث بلل کېږي لکه د (الف ب ج) مثلث چې د ( ب ) زاويه يې منفرجه يعنې له ۹۰ درجې څخه زياته ده اودوه نورې يې (ج او الف) زاويې يې هر يوه حاده دي.




## حادالزاويه مثلث:

هغه مثلث دی چې درې واړه زاويې يې حاده وي حاده الزاويه مثلث ورته وايي لکه د (الف ب ج) مثلث چې هره زاويه يې (الف ب ج) حاده زاويې دي.






ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## فعالیتونه:

زده کوونکي دې په ګروپي ډول له خط کش او نقالۍ څخه کار واخلي او لاندې پوښتنو ته دې ځواب ورکړي.

۱- مثلث د زاويو له مخې په څو ډوله دی؟

۲- که چېرې د مثلث يوه زاويه قايمه وي دوه نورې يې څه نوميږي؟

۳- د منفرالزاويه مثلث دوه نورې زاويې د څه په نامه يادېږي؟

۴- آيا داسې مثلث شته چې دوه زاويې يې قايمې يا منفرجه وي؟

**کورنۍ دنده:**

د قايم الزاويه او منفرجه الزاويه مثلثونو تر منځ توپير وليکئ او په شکل کې وښياست؟

## د ضلعو له مخې د مثلث ډولونه:

موخه: زده کوونکي متساوي الاضلاع، متساوي الساقین او مختلف الاضلاع مثلثونه وپېژني او یو له بل څخه یې تشخیص کړای شي.

مثلث د ضلعو له مخې په درې ډوله دی.

۱- متساوي الاضلاع مثلث ۲- متساوي الساقین مثلث ۳- مختلف الاضلاع مثلث

### ۱- متساوي الاضلاع مثلث:

هغه مثلث ته وایي چې درې واړه ضلعې یې مساوي وي لکه د (ا $\overset{\triangle}{ب}$ ج) مثلث.

ج $\overline{الف}$ = ج $\overline{ب}$ = ب $\overline{الف}$ وي




### ۲- متساوي الساقین مثلث:

هغه مثلث دی چې دوه ضلعې یې مساوي وي لکه د (ا $\overset{\triangle}{ب}$ ج) په مثلث کې چې ($\overline{اب}$) له ($\overline{اج}$) سره مساوي ده.

یعني لکه په مخامخ مثلث کې:




### ۳- مختلف الاضلاع مثلث:

هغه مثلث دی چې درې واړه ضلعې یې سره مختلفې وي. لکه د (ا $\overset{\triangle}{ب}$ ج) په مثلث کې. چې د درې واړو اوږدوالی له یو بل سره مساوي نه دی.






ketabton.com - The Digital Library

## فعالیتونه:

زده کوونکي دې له خط کش څخه په کار اخیستنې سره لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي.

۱– لاندې مثلثونه وګورئ لومړی په اټکلي ډول او وروسته په دقیق ډول د هغو ضلعي اندازه کړئ د هر یوه نوم د اضلاعو له مخې د لمبر تر څنګ په خپلو کتابچو کې ولیکئ.




۲– آیا هر متساوي الاضلاع مثلث متساوي الساقین مثلث هم دی؟

۳– د مخامخ شکل ضلعې او زاویې اندازه کړئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي.




**الف:** کومې ضلعې یو له بل سره مساوي دي؟

ب: کومې زاویې یو له بل سره مساوي دي؟

ج: نومورې مثلث د ضلعو له پلوه په کوم نوم یادېږي؟

د: نومورې مثلث د زاویو له مخې څه نوم لري؟؛

۴– د ۴ سانتي مترو په اوږدوالي یو ټوټه خط رسم کړئ او د ب په نقطه کې یې یوه قایمه‌زاویه رسم کړئ او له دویمې ضلعې څخه د ۴ سانتي مترو په اوږد والي د (ج) نقطه جلا کـړئ وروسته د (ج) نقطه د (الف) له نقطې سره ونښلوئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست .

**الف:** د رسم شوي مثلث هره زاویه اندازه کړئ؟

**ب:** په داسې حال چې د دوو ضلعو اوږدوالی (د قایمو ضلعو اوږدوالی) ۴,۴ سانتي متـره دی د (ج الف) د ضلعې (وتر) اوږدوالی اندازه کړئ چې څو سانتي متره او څو ملي متره کېږي؟

**ج:** رسم شوی مثلث د زاویو له مخې څه نوم لري او د ضلعو له مخې څه نوم لري؟



ketabton.com - The Digital Library

۵- د ب په رأس کې یوه قایمه زاویه رسم کړئ او له قایمو ضلعو څخه یې د ۳ سانتي مترو او ۴ سانتي مترو په اندازه د (ج، د) دوې نقطې جلا کړئ او له یو بل سره یې ونښلوئ د هغې دریمې ضلعې (وتر) اوږدوالی اندازه کړئ.

۶- آیا یو قایم الزاویه مثلث متساوي الاضلاع مثلث کېدای شي که چېرې کېدای نشي ولې؟

۷- د الف په رأس کې یوه زاویه رسم کړئ چې ۶۰ درجې وي د هغې له اړوندې ضلعې څخه (ب، ج) نقطې د ۵,۵ سانتي مترو په اندازه جلا کړئ او د خط کش پــه واســطه یــې ونښلوئ او بیا لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست؟

الف: د رسم شوي مثلث هره زاویه څو درجې ده؟ او د درو واړو زاویه مجموعه څو درجې ده؟

ب: د هرې ضلعې د اوږدوالې اندازه ولیکئ؟

ج: رسم شوی مثلث څه نومېږي؟

د: د رسم شوي مثلث محیط څو سانتي متره دی؟

**کورنۍ دنده:**

که چېرې کوم فعالیت په ټولګي کې سرته و نه رسول شي په کور کې یې سرته ورسوئ.



ketabton.com - The Digital Library

## مضلع:

هغه سطحه چې د درو او یا له درو څخه د زیاتو ټوټه خطونو په واسطه احاطه شوې وي مضلع بلل کېږي. هر ټوټه خط ته د مضلع ضلع او د دوو ټوټه خطونود یو ځای کېدو نقطې ته د مضلع رأس وایي لکه په لاندې شکلونو کې:



## د مضلع قطر:

هغه ټوټه خط چې د یوه مضلع دوه غیر مجاور راسونه (کونجونه) سره نښلوي د مضلع قطر بلل کېږي لکه په لاندې شکل کې د( $\overline{\text{الف ج}}$ ) او ( $\overline{\text{ب د}}$ ) قطرونه:




## فعالیتونه:

۱- د ب په رأس سره د ۳۰ درجې زاویه رسم کړئ له ضلعو څخه یې په ترتیب سره د ۳ سانتي مترو په اندازه د (ج او د) نقطې وټاکئ وروسته هغه له ۳ سانتي مترو څخه د زیاتې فاصلې په اندازه د زاویې په وسطي برخه کې د (هـ) یوه کیفي نقطه وټاکئ د (ج د) نقطو سره یې ونښلوئ. په رسم کې پاملرنه وکړئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

الف: رسم شوی شکل څه نومېږي؟

ب: هره رسم شوې زاویه یې اندازه او ولیکئ؟

ج: د ټولو رسم شوو زاویو مجموعه پیدا کړئ؟

د: که چېرې د (هـ) نقطه د ب له نقطې سره ونښلوئ د ب هـ ټوټه خط د مضلع د څه په نامه یادېږي؟



ketabton.com - The Digital Library

۲– په لاندې شکلونو کې د مضلع ځنې قطرونه په سره رنګ رسم شوي دي د درکړل شـــوو شکلونو قطرونه بشپړ کړئ او ددې مخ د جدول تش ځايونه ډک کړئ.



| د څو ضلعي نوم | درې ضلعي يا مثلث | څلور ضلعي | پنځه ضلعي |
|---|---|---|---|
| د ضلعو شمېر | ۳ | | ٠ |
| د قطرونو شمېر | ٠ | | |

**کورنۍ دنده:**

د مخامخ شکل قطرونه رسم کړئ.

وواياست چې څو ضلعي او څو قطرونه لري؟






ketabton.com - The Digital Library

## مستطیل:

موخه: زده کوونکي مستطیل وپیژني او له نورو هندسي شکلونو څخه یې جلا کړای شي.

هغه څلور ضلعي چې څلور واړه زاویې یې قایمې او ضلعې یې دوه په دوه مساوي او موازي وي مستطیل بلل کېږي. لکه د (الف ب ج د) مستطیل چې

(ب ج) = (۱ د) سره او (الف ب) = (د ج) سره




## فعالیتونه:

زده کوونکي دې په ګروپونو (ډلو) کې د خط کش او نقالې په کاره ولو سره لاندې فعالیتونه سر ته ورسوي اوپوښتنو ته دې ځواب ووایي.

د ٦ سانتي مترو په اوږدوالي د (الف ب) یو ټوټه خط رسم کړئ او په دواړو څو کوکې یې دوه قایمې زاویې رسم کړئ د نومړو زاویو له دویمو ضلعو څخه د ۲,۲ سانتي مترو په اندازه ټوټه خطونه د (ج) او (د) نقطې جلا کړئ دغه دواړه نقطې سره ونښلوئ او بیا لاندې پوښتنوته ځواب ووایاست:

۱- هره رسم شوې زاویه څو درجې ده؟

۲- د ( د ج ) ټوټه خط اوږدوالی څو سانتي متره دی؟

۳- لاسته راغلی شکل څو راسه (کنجونه) څو زاویې او څو ضلعې لري او کومې ضلعې یې یو له بله سره مساوي دي؟

۴- که چېرې (الف ب) او (د ج) ضلعو ته امتداد ورکړل شي آیا یو بل به سره قطع کړي او که نه؟

۵- د (الف ب) او (ب د) ضلعې موازي دي او که متقاطع ( ټوټه کوونکي)؟

٦- پوهېږې چې لاس ته راغلی شکل په څه نامه یادېږي؟

**کورنۍ دنده:**

یو مستطیل رسم کړئ چې اوږدوالي یې ۷۵ سانتي متره او سور یې ۲ سانتي متره وي.



ketabton.com - The Digital Library

## مربع:

**موخه**: زده کوونکي مربع وپيژني او له نورو هندسي شکلونو څخه يې تشخيص کړای شي.

هغه څلور ضلعي چې څلور واړه زاويې يې قايمه او ضلعې يې سره مساوي وي مربع بلل کېږي.

لکه د ( ا ب ج د ) مربع




## فعاليتونه:

د ۵ سانتي مترو په اوږدوالي د (الف ب) يو ټوټه خط رسم کړئ، د نوموړي ټوټه خط په دواړو څوکو کې دوه قايمې زاويې رسم کړئ او بيا د نوموړو زاويو له ضلعو څخه د ۵ سانتي مترو په اندازه د (دج) دوې نقطې په نښه کړئ. او په نښه شوې نقطې سره ونښلوئ اوس رسم شـــوي شکل ته ځير شئ، اټکل وکړئ چې څه نومېږي او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

۱– د (د ج) ټوټه خط څو سانتي متره دی؟

۲– د رسم شوو ټوټه خطونو اوږدوالی له يو بل سره څه ارتبارط لري؟

۳– دوه نورې رسم شوې زاويې څو درجې دي او څلور واړه زاويې له يوې بلې سره څه ارتباط لري؟

۴– رسم شوی شکل د اضلاعو او زاويو د خصوصيتونو له پلوه په څه نامه يادېږي؟

۵– د يوې مربع د اضلاع او زاويو ترمنځ څه ارتباط وجود لري؟

٦– که چېرې د الف نقطه له (د) سره اود (ج) نقطه له (ب) سره ونښلوو د (الف د) او (ب ج) خطونه د څه په نامه يادېږي؟

۷– نوموړی قطرونه اندازه او پرتله يې کړئ؟

۸– ووایاست چې له يو بل سره څه ارتباط لري؟

**کورنۍ دنده:**

يوه مربع رسم کړئ داسې چې د يوې ضلعې اوږدوالی يې ۴ سانتي متره وي قطرونه يې رسم کړئ او اندازه يې کړئ ووایاست چې يو له بله سره څه ارتباط لري؟



ketabton.com - The Digital Library

## دایره، د دایرې مرکز، د دایرې شعاع، د دایرې وتر او د دایرې قطر:

موخه: زده کوونکي دایره، د دایرې مرکز، د دایرې شعاع د دایرې وتر او د دایرې قطر وپېژني او یو له بل څخه یې توپیر وکړای شي.

پوهېږئ چې دغه شکل څه نومېږي؟

باید پوه شئ چې دغه شکل د دایرې په نامه یادېږي؟

ددې لپاره چې تاسو دایره رسم کړئ څه کوی؟




## فعالیت:

د پنسل په څوکه یو تار وتړئ او د تار په بل سر کې د حلقې غوندې یوه غوټه واچوئ په غوټه کې یو سنجاق داخل کړئ او بیا یې په کاغذ وټومبئ او شاوخواته یې په بشپړه ټوګه د پنسل څوکه تاو کړئ هغه تړلې منحني چې د پنسل په واسطه د کاغذ پر مخ رسمېږي دایره نومېږي.

نو ویلای شو چې:

## دایره:

هغه تړلې منحني ده چې ټولې نقطې یې له یوې ثابتې نقطې څخه مساوي فاصله ولري. تړلې منحني ته د دایرې محیط او ثابتې نقطې ته د دایرې مرکز او هغه ټوټه خط چې د دایرې محیط له مرکز سره نښلوي د دایرې شعاع وایي لکه د (م ن) شعاع.




### کورنۍ دنده:

هر زدکوونکی دې د پورتني فعالیت سره سم یوه دایره رسم کړي.



ketabton.com - The Digital Library

## د دايرې قطر:

هغه توږه خط چې د دايرې د محيط له يوې نقطې څخه پيل شي د دايرې له مرکز څخه تېر او د دايرې د محيط له يوې بلې مخامخ نقطې سره ونښلول شي د دايرې قطر بلل کېږي.

لکه د (الف ب) قطر




د دايرې قطر د هغې د شعاع دوه برابره ده يعني

شعاع × ۲ = قطر

## د دايرې وتر:

هغه توږه خط دی چې د دايرې د محيط دوه نقطې سره نښلوي د وتر په نامه يادېږي.

لکه د م په دايره کې د $\overline{(ب\ د)}$ د وتر خط




## فعاليت:

يوه دايره رسم کړئ د هغه درې وترونه داسې رسم کړئ چې يو يې له مرکز څخه تېر شي او هر يو د دوو تورو په واسطه وښياست بيا لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

۱− د هر وتر اوږدوالی اندازه کړئ تر ټولو اوږد وتر يې وليکئ چې څومره اوږدوالی لري او د څه په نامه يادېږي؟

۲− د اوږد وتر اوږدوالی د هماغې دايرې له شعاع سره پرتله کړئ؟

۳− دوه قطرونه رسم کړئ آيا نور قطرونه هم کېدای شي؟

۴− په يوه دايره کې څو وترونه رسمولای شئ؟

**کورنۍ دنده:**

يو دايره رسم کړئ د هغې مرکز، محيط، شعاع، قطر او وتر وښياست؟



ketabton.com - The Digital Library

## د دایرې قوس:

د دایرې د محیط یوه برخه د دایرې قوس بلل کېږي. لکه (د ج ب) قوس او داسې ښودل کېږي (د ج ب)




## د دایرې قطعه:

د دایرې د سطحې یوه برخه ده چې د دایرې د قوس او د هغې د اړوند وتر په واسطه احاطه شوی وي د دایرې د قطعې په نامه یادېږي. د هغې ساحې په څېر چې د (ج ن د) قوس او د (ج د) د وتر په واسطه احاطه شوې ده.




## د دایرې قطاع:

د دایرې یوه برخه چې د هغې دایرې د دوو شعاوو او اړوند قوس په واسطه احاطه شوې وي د دایرې قطاع بلل کېږي لکه پرداس شوې برخه چې د (الف م) او (ب م) شعاعو او د (ب ج الف) قوس په واسطه احاطه شوې ده.




### فعالیت:

یوه دایره رسم کړئ د هغې د محیط یوه برخه د (ق ج س) درو نقطو په واسطه مشخص کړئ او ځواب ورکړئ:

الف: که چېرې د (ق) نقطه د س له نقطې سره ونښلوئ د (ق س) ټوټه خط ته څه وایي؟

ب: هغه برخه چې د (س ج ق) قوس او د (س ق) وتر په واسطه احاطه کېږي د څه په نامه یادېږي؟

ج: که چېرې د (ق س) نقطې د دایرې له مرکز سره ونښلوئ هغه برخه چې د دغو شعاعو او اړوند قوس په واسطه جلا کېږي د څه په نامه یادېږي؟



ketabton.com - The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

یوه دایره رسم کړئ او په هغې کې مرکز، محیط، شعاع، وتر، قوس قطر، تړونه خط او قطاع په خط سره وښیاست؟

**پوښتني:**

۱– په یوه دایره کې څو محیطونه او څو مرکز ونه لیدلای شئ؟

۲– په یوه دایره کې څو شعاع او څو وترونه رسمولای شئ؟

۳– په یوه دایره کې څو قطرونه رسمولای شئ؟

۴– که چېرې ووایو چې د دایرې شعاع د هغې د قطر نیمایي ده آیا خبره مو صحیح ده او که نه؟

۵– که چېرې ووایو چې په یوه دایره کې ډېر لوی وتر د هغې له قطر څخه عبـارت دی آیـا صحیح خبره موکړې ده او که نه؟

۶– دایره تړلې منحني ده که خلاصه؟

۷– که چېرې ووایو چې د دایرې د عینې قوس په مقابل کې د دایرې تړونه د هغې له قطاع څخه کوچنۍ ده په رسم کې یې څرګنده کړئ چې صحیح خبره مو کړېده که نه؟

۸– د ($\overline{دم}$ ) یو تړونه خط رسم کړئ اود ( م ) په نقطه کې د ۶۰ درجو یوه زاویه رسم کړئ د ( م ) نقطه مرکز ونیسئ د ( $\overline{دم}$ ) په شعاع سره یوه دایره رسم کړئ د محیط او د زاویې د دویمې ضلعې د تقاطع نقطه ( ج) له ( د ) سره ونښلوئ او ځواب یې ورکړئ.

الف: د رسم شوي مثلث هره یوه زاویه اندازه کړئ او ووایاست چې مثلث د زاویو لـه پلوه په څه نامه یادېږی؟

ب: د مثلث هره ضلع اندازه کړئ نوموړي مثلث ته د ضلعو له پلوه نوم کېږدئ؟

ج: د ( م د ) شعاع د (د ج) له وتر سره پرتله کړئ په تش ځـایونو کـې لــه دغــو (= > او یا <) نښو څخه یوه ولیکئ؟ دج ☐ د م

د: د (د م ج) زاویه د دایرې په کومه برخه کې ده.



ketabton.com - The Digital Library

## د مکعب مستطیل پېژندنه:

موخه: زده کوونکي مکعب مستطیل او مکعب وپېژني، په جسمونو او شکلونو کې وښودلی شي او هر یو د شپږ وجهي په نوم وپېژني او په ورځني ژوند کې ورڅخه کار واخیستلی شي خپلې او د نورو ستونزې له منځه یوسي.

## مکعب مستطیل:

یو شپږ وجهي سطحې چې ټولې وجهې یې مستطیل شکله وي مکعب مستطیل بلل کېږي لکـــه کتاب د ګوګړو قطی، خښته، د مېوو کارتن او داسې نور.


د قطي شکل



د یو کتاب شکل



د چایو د قطي شکل

## فعالیت:

زده کوونکي دې یو مکعب مستطیل په فرضي توګه د ګوګړ قطی چې په هر ځای کــې پیــدا کېږي په خپلو ګروپونو کې د مېز له پاسه یا په خپل مخ کې کېږدي. د مستطیل د ضلعو، زاویو او د کونجونو په هکله یې پخوا معلومات تر لاسه کړي دی پدې قطــي کــې دې د مکعــب مستطیل، ضلعې راسونه او جانبي سطحې څرګندې کړي، یادداشت دې واخلي او لاندې پوښتنو ته دې ځواب ووايي.

۱– یو مکعب مستطیل څو سطحې لري؟ ۲– څو جوړه مساوي سطحې لري؟

۳– څو ضلعې او څو جوړې مساوي ضلعې لري؟ ۴– څو راسونه لري؟

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې له خټو یا کوم بل شي څخه د مکعب مستطیل مودل جوړ کړي.



ketabton.com - The Digital Library

## مکعب:

یوه شپږ وجهي (سطحې) چې ټولې سطحې یې سره مساوي وي مکعب بلل کېږي.

لکه لاندې شکل:




### فعالیت:

۱- په خپلو ګروپو نو کې یو کاک کاغذ په اوږدوالي سره په څلورو مساوي برخو او په هماغه اندازه په سور باندې په مساوي برخو ووېشي لکه مخامخ شکل.

۲- تورې شوې مربع ګانې د بیا تې په واسطه جلا کړئ.

۳- پاتې مربع ګانې د هغو ځنګ ته قات کړئ؟

۴- لاسته راغلی مودل د اسکاشتیپ یا کاغذ په واسطه سریښ کړئ.

۵- خپل جوړ شوی مودل د میز پاسه کېږدئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.




الف: څو راسه لري څو ضلعې لري او ضلعې یې یوله بلې سره څه ارتباط لري؟

ب: څو سطحې لري؟ او سطحې له یوې بلې سره څه ارتباط لري؟ او په څه نامه یادېږي؟

ج: خلک تیرې او د ودانۍ ختې په څه ډول اندازه کوي؟

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې د مکعب مستطیل یو مودل لکه څنګه چې په ګروپونو کې یې جوړ کړي دي، جوړ کړي؟

# خلورم څپرکی

## تر ټولو لوی مشترک قاسم او تر ټولو کوچنی مشترک مضرب

پر ۲، ۳، ٦، ۵ او ۱۰ باندې د وېش قابليت

**موخه**: زده کوونکي بايد د وېش د عمليې د سر ته رسولو پرته پدې پوه شي چې پر ۲، ۳، ۵، ٦ او ۱۰ باندې يو عدد پوره وېشل کېږي.

**پر ۲ باندې د وېش قابليت**:

هر عدد چې لومړی رقم يې صفر يا جفت وي پر ۲ پوره وېشل کېږي.

د مثال په ډول د ۳۴۲، ٦۳۴، ۷۹۰، ۵۹۸، ۳۲۷۲ عددونه چې لومړی رقم يې صفر يا جفت دي پر ۲ باندې پوره د وېشلو وړدي ځکه:

۳۴۲ ÷ ۲ =۱۷۱ ، ٦۳۴ ÷ ۲ =۳۱۷

۷۹۰÷ ۲ = ۳۹۵ ، ۵۹۸ ÷ ۲ =۲۹۹ ، ۳۲۷۲ ÷ ۲ =۱٦۳٦

**پر ۳ باندې د وېش قابليت**:

هر عدد چې د رقمونو مجموعه يې پر ۳ باندې پوره ووېشل شي هغه عدد پر ۳ باندې پوره وېشل کېږي

د مثال په ډول:۵۷۳، ۸۴۳، ۴۲٦، ۳۲۴٦ او نور چې د رقمونو مجموعه يې پر ۳ باندې پوره وېشل کېږي يعني: ۱۵=۳+۷+۵، ۱۵=۳+۴+۸، ۱۲=٦+۲+۴، ۱۵=٦+۴+۲+۳ کېږي او دا هر يو عدد پر ۳ باندې پوره د وېشلو وړدي.

ځکه ۱۹۱=۳÷۵۷۳، ۲۸۱=۳÷۸۴۳، ۱۴۲=۳÷۴۲٦، ۱۰۸۲=۳÷۳۲۴٦

**پر ۶ باندې دوېش قابليت**:

هغه عددونه چې پر ۲ او ۳ باندې پوره د وېشلو وړوي پر ٦ باندې هم پوره د وېشلو وړدي،

د مثال په توګه: ۲۳۱۰، ۳۲۴٦، ۱۸، ۲۲۸ چې هر يو يې پر ۲ او ۳ باندې پوره وېشل کېږي پر ٦ باندې هم پوره وېشل کېږي.



ketabton.com - The Digital Library

يعنى :

۲۳۱۰ ÷ ۲ = ۱۱۵۵ ، ۲۳۱۰ ÷ ۳ = ۷۷۰ ، ۲۳۱۰ ÷ ۶ = ۳۸۵

۳۲۴۶ ÷ ۲ = ۱۶۲۳ ، ۳۲۴۶ ÷ ۳ = ۱۰۸۲ ، ۳۲۴۶ ÷ ۶ = ۵۴۱

۱۸ ÷ ۲ =۹ ، ۱۸ ÷ ۳ = ۶ ، ۱۸ ÷ ۶ = ۳

۲۲۸ ÷ ۲ = ۱۱۴ ، ۲۲۸ ÷ ۳ = ۷۶ ، ۲۲۸ ÷ ۶ = ۳۸

## فعاليت:

له لاندې عددونو څخه په تشو ځايونوکې مناسب عددونه وليکئ.

**۱۲۹، ۳۰۰، ۴۸، ۴۸۳، ۵۴۲، ۳۹٦، ٦۹۳، ۳۰۴، ۸۲**

– هغه عددونه چې پر ۲ باندې پوره د وېشلو وړدي عبارت دي له: ___، ___، ___، ___، ___، ___، ___

– هغه عددونه چې پر ۳ باندې پوره د وېشلو وړدي عبارت دي له: ___، ___، ___، ___، ___، ___، ___

– هغه عددونه چې پر ٦ باندې پوره د وېشلو وړدي عبارت دي له: ___، ___، ___، ___، ___، ___،

**کورنۍ دنده:**

درې داسې عددونه وليکئ چې پر ۲، ۳ او ٦ باندې پوره د وېشلو وړوي.

**تمرين:**

۱- له لاندې عددونو څخه کوم يې پر ۲ کوم يې پر ۳ او کوم يې پر ٦ باندې پوره د وېشلو وړدي جلا جلا يې وليکئ:

**۷۹۲، ۸۵۰، ۲۵۸، ۴۳۲٦، ۳۲۱، ٦۲۲، ۷۳۲۰، ۱۵۲۲**

۲- په لاندې عددونو کې هغه عددونه چې پر۲ باندې پوره د وېشلو وړوي ترې لاندې کرښه وباسئ.

**۱۰۰۵، ۵٦۹۷، ۷۲۰۲۰، ٦۱۳۵، ۱۰۰۰، ۲۰۱٦، ۷۲۴**



ketabton.com - The Digital Library

۳- په لاندې عددونو کې هغه عددونه چې پر ۳ باندې پوره د وېشلو وړ دي کړۍ
ځني تاو کړئ.

۵۶۳۲، ۱۷۱۱۲، ٦۲۳۱۳، ۵۱۳٦، ۱۰۰۲، ۲۷٦۱، ۳۵۵

۴- د ۳، ۴ او ۵ رقمونو په کارولو سره شپږ درې رقمي عددونه ولیکئ چې پر ۳ باندې پوره د وېشلو وړ وي.

۵- په لاندې عددونو کې هغه عددونه چې پر ٦ باندې د وېشلو وړوي کړۍ تر تاو کړئ.

۷۳٦۸، ۵۴۹، ۹۴۸۴، ۷٦۲۰، ۴۳۲۵، ۳۰۰، ۳۹٦

۶- ټول هغه درې رقمي عددونه چې يوازې له ۰، ۲ او ۷ رقمونو څخه تشکيل وي پر ۲ او ۳ باندې پوره د وېشلو وړ وي ويې لیکئ؟

۷- د هر يوه ستورې پر ځای ۵*۲، *٦۴ او *۱۴ کوم رقمونه ولیکل شي چې لاسته راغلي عددونه پر ۳ باندې پوره ووېشل شي.

۸- هغه درې عددونه پيدا کړئ چې د (۱) له رقمونو څخه جوړ شوي وي او په ۳ باندې پوره د وېشلو وړوي.

۹- د راکړل شوي هر يوه ستوري پر ځاي ٦ * ۲، * ۴۲، او ٦۰ * کوم رقم وليکل شي چې لاسته راغلي عددونه پر ٦ باندې پوره ووېشل شي.

**پر ۵ باندې د وېش قابليت:**

هغه عددونه چې لومړی رقم يې صفر يا پنځه وي پر ۵ باندې پوره وېشل کېږي.

لکه: ۹۰۰۵ ، ۸۱۷۰ ، ۱۲۴۵ ، ۱۰۰۰ ، ۳۱۰۵ چې لومړی رقم صفر يا ۵ دی پر ۵ باندې پوره وېشل کېږي. ځکه چې ۱۸۰۱ = ۵ ÷ ۹۰۰۵، ۱٦۳۴=۵÷ ۸۱۷۰

۲۴۹ = ۵ ÷ ۱۲۴۵ , ۲۰۰ = ۵ ÷ ۱۰۰۰

٦۲۱ = ۵ ÷ ۳۱۰۵

**پر ۱۰ باندې د وېش قابليت:**

هر هغه عدد چې لومړی رقم يې صفر وي پر ۱۰ باندې پوره وېشل کېږي.

د مثال په توګه ۱۸۹۰ ، ۲۷۰ ، ۳۵٦۰ ، ۱۰۰۰ چې لومړي رقمونه يې صفر دی پر ۱۰ باندې پوره وېشل کېږي.



ketabton.com - The Digital Library

ځکه چې ۱۸۹ = ۱۰ ÷ ۱۸۹۰ , ۲۷ = ۱۰ ÷ ۲۷۰ , ۳۵۶ = ۱۰ ÷ ۳۵۶۰
۱۰۰ = ۱۰ ÷ ۱۰۰۰

## فعالیت:

له یوه څخه تر ۳۰ پورې عددونه په داسې ډول ولیکئ چې په ترتیب د زیاتیدو وي وروسته په ۵ او ۱۰ باندې د وېشلو د قابلیت په کارولو سره لاندې تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

- هغه عددونه چې پر ۵ باندې پوره د وېشلو وړدي عبارت دي له:——،——،——،
- هغه عددونه چې پر ۱۰ باندې پوره د وېشلو وړدي عبارت دي له: ——، —— ، ——
- هغه عددونه چې پر ۵ او ۱۰ باندې پوره د وېشلو وړدي عبارت دي له:——،——،

**کورنۍ دنده:**

له لاندې عددونو څخه:

۹۰۰ ، ۶۴۵۵ ، ۸۳۲۰ ، ۶۳۷۰ ، ۹۵۴۵، ۱۰۰۰ ، ۸۳۲۵ کوم یې پر ۵ او کوم یې پر ۱۰ باندې پوره وېشل کېږي جلا جلا یې ولیکئ.



ketabton.com - The Digital Library

## تمرین:

۱- په لاندې عددونو کې د هغو عددونو په شااو خوا چې پر ۵ باندې د وېشلو وړوي کړۍ-ترې تاوکړئ

۴۶۵۰، ۹۰۷۱، ۱۰۰۱۷، ۶۳۰، ۷۴۳۲۵، ۲۱۱۹، ۴۱۰۰۰، ۹۰۰۵، ۲۰۱۱۵، ۱۱۲۲۳

۲- پنځه عددونه ولیکئ چې پر ۵ باندې پوره د وېشلو وړوي.

۳- پنځه عددونه ولیکئ چې پر ۱۰ باندې د وېش قابلیت ولري.

۴- د الف، ب او ج د هر جز له پاره درې درې عددونه ولیکئ.

الف: پر پنځو باندې د وېشلو وړوي.

ب: پر ۱۰ باندې د وېشلو وړوي.

ج: پر ۵ او ۱۰ باندې د وېشلو وړوي.

۵- ټول درې رقمي عددونه چې د ۰، ۱ او ۵ رقمونو څخه جوړ شوي وي پر ۵ او ۱۰ باندې پوره د وېش وړ وي ویې لیکئ.

۶- له ۹۰۰۱ ، ۶۰۰۰ ، ۷۱۰۰ ، ۵۱۵ ، ۱۰۰۰ ، ۸۰۳۵ ، ۷۶۵۳، ۶۰۰۲ عددونو څخه کوم یې پر ۵ او کوم یې پر ۱۰ د پوره وېشلو وړدي.

۷- ایا هغه عددونه چې پر ۵ او ۱۰ باندې پوره د وېش وړ نه دي په پورته عددونوکې شته؟



ketabton.com - The Digital Library

## د قاسم او مضرب د مفاهیمو پېژندنه

**موخه:** زده کوونکي د یوه عدد د قاسمونو او مضربونو په مفهوم باندې پوه شي.

د قاسم د مفهوم د پېژندلو له پاره د بیلګې په توګه د ۴ عدد په پام کې نیسو د ۴ عدد د ۲ په عدد پوره وېشل کېږي دلته د ۲ عدد ته د ۴ د عدد قاسم وايي. له بلې خوا د ۴ عدد د یو (۱) په عدد هم پوره وېشل کېږي چې (۱) ته هم د څلورو د عدد قاسم وايي. دغه د ۴ عدد د ۴ په عدد هم پوره وېشل کېږي نو د ۴ عدد ته د ۴ عدد قاسم وايي.

نو ویلای شو چې د ۴ د عدد قاسمونه له ۱، ۲ او ۴ څخه عبارت دي خو د ۳ عدد د ۴ عدد قاسم نه دی ځکه چې د ۴ عدد پر ۳ باندې پوره نه وېشل کېږي. دغه راز که چېرې د ٦ عدد د ۳ پر عدد باندې ووېشو پوره وېشل کېږي نو ۳ ته د شپږو قاسم ویلای شو خو د ۵ عدد د ٦ عدد قاسم ځکه نه دی چې ٦ پر ۵ پوره نه وېشل کېږي. له دې امله: ٦،۴،۲،۱= د ٦ د عدد قاسمونه.

اوس که چېرې د ۸ عدد په پام کې ونیسو د ۸ د عدد قاسمونه له ۱، ۲، ۴، ۸ څخه عبارت دي خو ۳، ۵ او ۷ د ۸ د عدد قاسم نه دي.

له دې امله ۱، ۲، ۴، ۸ د ۸ د عدد قاسمونه دي.

د یوه عدد د مضرب د مفهوم د پېژندلو له پاره که چېرې یو عدد په ترتیب سره د ۱، ۲، ۳، ۴... په عددونو کې ضرب کړو د هغه عدد یو برابر، درې برابر، څلور برابره او... عددونه لاسته راځي د هغه عدد همدغه یو برابر، دوه برابره، درې برابره او څلور برابره... عدد ته اضعاف یا د هغه عدد مضرب وايي.

د مثال په توګه: که چېرې د ۲ عدد د ۱، ۲، ۳، ۴... عددونو کې ضرب کړو د ۲ عدد یو برابر (۲=۲×۱)، دوه برابره (۴=۲×۲)، درې برابره (٦=۲×۳)، څلور برابره (۸=۲×۴) لاسته راځي چې د ۲، ۴، ٦، ۸ عددونو ته د ۲ اضعاف یا مضرب وايي.

نو لیکلای شو چې: ۲، ۴، ۸،٦..... د ۲ د عدد مضربونه دي



ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

د هر عدد قاسمونه په تشوځایونو کې ولیکئ.

د ۹ دعدد قاسمونه ـــــ ، ـــــ ، ـــــ

د ۱۰ د عدد قاسمونه ـــــ ، ـــــ ، ـــــ

- ایا د ۵ عدد د ۴۵ قاسم دی؟ ولې................

- ایا د ۱٦ عدد د ۸ قاسم دی؟ ولې................

د ۴ عدد مضربونه =۴، ۸، ۱۲ ـــــ ، ـــــ ، ـــــ

د ۷ عدد مضربونه =۷، ۱۴، ۱۲ ـــــ ، ـــــ ، ـــــ

د ۹ عدد مضربونه =۹، ۱۸، ۲۷ ـــــ ، ـــــ ، ـــــ

- ایاد ۴۴ عدد د ۱۱ مضرب دی؟

- د ۱۱ عدد درې نور مضربونه ولیکئ؟

- د پورتني فعالیت په پام کې نیولو سره کوم عدد د ۴ مضرب او هم د ۷ د عدد مضرب دی؟

**کورنۍ دنده:**

۱. د ۳۰ د عدد ټول قاسمونه د زیاتېدو په ترتیب سره ولیکئ

۲. له ۱۴، ۲۴، ۲۱، ۳۴، ۴۲، ۵۱، ٦۳، ٦۸ او ۷۵ عددونو څخه داسې عددونه وټاکئ چې

الف: د ۷ د عدد مضرب وي.

ب: د ۱۷ د عدد مضرب وي.

ج: د ۸ عدد مضرب وي.

د: د ۲ عدد مضرب وي.



ketabton.com - The Digital Library

## تمرین:

۱. ایا د ۷ عدد د ۲۸ د عدد قاسم دی؟ ولې؟

۲. ایا د ۵ عدد د ۱٦ د عدد قاسم دی؟ ولې؟

۳. د ۱۲ د عدد قاسمونه ولیکئ؟

۴. ایا د ۳ عدد د ۵ د عدد قاسم دی؟ ولې؟

۵. ایا د ۴۵ عدد د ۹ د عدد مضرب دی؟

٦. ایا د ۲۵ عدد د ۷ د عدد مضرب دی؟

۷. ایا د ۵٦ عدد د ۸ د عدد مضرب دی؟

۸. ایا د ۱۰۰ عدد د ۹ د عدد مضرب دی؟

۹. ایا د ۳۵ عدد د ۵ پر عدد پوره وېشل کېږي؟ د ۵ عدد په څه نوم او د ۳۵ عدد په څه نامه یادېږي.

۱۰. له لاندې عددونو څخه لومړی د ۲۰ او ۱٦ عددونو قاسمونه او بیا د ۴ او ۳ عددونو مضربونه ولیکئ.

۲۰، ۱۸، ۱٦ ، ۱۴، ۱۲، ۱۰ ، ۸ ، ٦ ، ۴ ، ۲

۱۱. د ۹، ۱۲، ۲۵ او ۱۱ عددونو قاسمونه ولیکئ.

۱۲. د ۸ او ۱۱ عددونو د دوه رقمي عددونو مضربونه ولیکئ.

۱۳. دوه رقمي عددونه ولیکئ چې

الف: د ۱۰۰ قاسمونه وي

ب: د ۲۵ مضربونه وي

۱۴. له ۱۷۴ ، ۱۷۸ ، ۱۹۱ ، ۳۱۵ ، ۳۲۰ ، ۳۴٦ ، ۴۲۵ ، ۴۷۵ عددونو څخه داسې عددونه پیدا کړئ چې:

الف: د ۲ مضرب وي.

ب: د ۵ مضرب وي.



ketabton.com - The Digital Library

# د لومړنيو او غير لومړنيو ( مرکبو ) عددونو پېژندنه

**موخه:** زده کوونکي لومړني او غير لومړني عددونه وپېژني او يو له بله يې جلا کړای شي.

لاندې عددونو ته پاملرنه وکړئ:

۸ ، ۷ ، ٦ ، ۴ ، ۳ ، ۲

د پخوانيو معلوماتو له مخې ليکلای شو چې:

| | |
|---|---|
| ۱، ۳ = د ۳ د عدد قاسمونه | ۱، ۲ = د ۲ د عدد قاسمونه |
| ۱، ۲، ۳، ٦ = د ٦ د عدد قاسمونه | ۱، ۲، ۴= د۴ د عدد قاسمونه |
| ۱، ۲، ۴، ۸ = د ۸ د عدد قاسمونه | ۱، ۷ = د۷ د عدد قاسمونه |

که چېرې د پورتنيو عددونو قاسمونو ته پاملرنه وشي ليدل کېږي چې ۲، ۳ او ۷ عددونه هر يو ۲ قاسمه لري يعنی خپله عدد او يو او د ۴، ٦ او ۸ عددونه هر يو د دوو قاسمونو برسېره يعنی د نورو قاسمونو درلودونکي هم دي. نو له دې امله ۲،۳ او ۷ عددونه د لومړنيو عددونو په نامه د ۴، ٦ او ۸ عددونه د غير لومړنيو(مرکبو) عددونو په نامه يادوي.

نوليکلای شو چې:

**لومړني عددونه**: هغو عددونو ته وايي چې دوه قاسمه ولري چې يو يې پخپله او بل يې د يو عدد وي.

**مرکب عددونه**: هغو عددونو ته وايي چې له دوو څخه زيات قاسمونه ولري يعنی له خپل ځان او يو څخه پر ته په نورو عددونو هم د وېشلو وړوي.

ډېر کوچنی لومړني عدد له ۲ څخه عبارت دی او دا يوازينی لومړنی عدد دی چې جفت دی او نور ټول لومړني عددونه طاق دي.

د عددونو ترمنځ داسې عددونه هم شته چې په لومړنيو او غير لومړنيو عددونو پورې اړه نه لري ځکه چې نوموړي عددونه يوازې يو قاسم لري او بس او دا عدد له يو (۱) څخه عبارت دی.



ketabton.com - The Digital Library

تاسې په لاندې جدول کې وګورئ چې له یوه څخه تر ۱۰۰ پورې عددونه پر ترتیب سره لیکل شوي دي هغه عددونه چې ګردچاپېره یې کرښه تاو شوې ده د لومړنیو عددونو په نامه یادېږي ځکه داهغه عددونه دي چې یوازې په یو او خپل ځان باندې پوره وېشل کېږي.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | (٢) | (٣) | ۴ | (۵) | ۶ | (٧) | ٨ | ٩ | ١٠ |
| (١١) | ١٢ | (١٣) | ١۴ | ١۵ | ١۶ | (١٧) | ١٨ | (١٩) | ٢٠ |
| ٢١ | ٢٢ | (٢٣) | ٢۴ | ٢۵ | ٢۶ | ٢٧ | ٢٨ | (٢٩) | ٣٠ |
| (٣١) | ٣٢ | ٣٣ | ٣۴ | ٣۵ | ٣۶ | (٣٧) | ٣٨ | ٣٩ | ۴٠ |
| (۴١) | ۴٢ | (۴٣) | ۴۴ | ۴۵ | ۴۶ | ۴٧ | ۴٨ | ۴٩ | ۵٠ |
| ۵١ | ۵٢ | (۵٣) | ۵۴ | ۵۵ | ۵۶ | ۵٧ | ۵٨ | (۵٩) | ۶٠ |
| (۶١) | ۶٢ | ۶٣ | ۶۴ | ۶۵ | ۶۶ | (۶٧) | ۶٨ | ۶٩ | ٧٠ |
| (٧١) | ٧٢ | (٧٣) | ٧۴ | ٧۵ | ٧۶ | ٧٧ | ٧٨ | (٧٩) | ٨٠ |
| ٨١ | ٨٢ | (٨٣) | ٨۴ | ٨۵ | ٨۶ | ٨٧ | ٨٨ | (٨٩) | ٩٠ |
| ٩١ | ٩٢ | ٩٣ | ٩۴ | ٩۵ | ٩۶ | (٩٧) | ٩٨ | ٩٩ | ١٠٠ |

## فعالیت:

لاندې مثالونو ته پاملرنه وکړئ:

۲ × ۲ × ۳ = ۱۲ ، ۲ × ۳ = ٦

۲ × ۲ × ۳ × ۳ = ۳٦ ، ۲× ۳ × ۳ = ۱۸

په پورته مثالونو کې لیدل کېږي چې د ۲ او ۳ عددونو له ضرب کولو او په کار وړلو څخه زیات او بېلابېل عددونه جوړېږي.

زده‌کوونکي دې هم په همدې ډول ۴ عددونه ولیکي چې یوازې د ۲ او ۳ عددونو له ضرب څخه لاسته راغلي وي. او هم دې ۴ عددونه ولیکي چې د ۲ او ۵ عددونو له ضرب څخه لاسته راغلي وي پدې ډول څو عددونه جوړولای شو؟

د ۱۲ عدد لومړنی عدد نه دی ځکه چې د ۱۲ د عدد قاسمونه له ۱، ۲، ۳، ۴، ٦، ۱۲ څخه عبارت دي پدې عددونو کې ۲ او۳ لومړني عددونه دي ۲ او ۳ د ۱۲ د عدد قاسمونه دي.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

**کورنۍ دنده :**

په لاندې عددونو کې کوم عددونه لومړني عددونه او کوم يې غير لومړني عددونه دي .

۵۵ ، ۱۰۰ ۹۷۷ ، ۸۶۳ ، ۵۶۳ ، ۴۰۹ ، ۲۵۳ ، ۱۲۱ ، ۱۰۱ ، ۲۱۶

**تمرين:**

۱- آيا د دوو لومړنيو عددونو د ضرب حاصل:

الف: يو لومړنی عدد کېدلی شي؟

ب: يو غير لومړنی عدد کېدلی شي؟

۲- له ټولو لاندې عددونو څخه کوم يې لومړني عددونه او کوم يې غير لومړني عددونه دي؟

۸۸۱،۶۲۱ ، ۴۹۹ ، ۳۳۵ ، ۱۳۲ ، ۹۴۰ ، ۵۱۱

۳- ثابت کړئ چې ۲۹۶۸ ، ۳۶۰۰ ، ۸۸۸ غير لومړني عددونه دي؟

۴- د ۵۰ د عدد قاسمونه پيدا کړئ او له هغو څخه لومړني عددونه وليکئ؟

۵- د لاندې مثال په توګه عمل وکړئ چې د لومړنيو عددونو قاسمونه ته ورسېږئ.




۴۲ ۲۱ ۹۰

۶- په لاندې عددونو کې د لومړنيو عددونو پرشاوخوا يوه دايره رسم کړئ او وروسته د غير لومړنيو عددونو لاندې يو خط وباسئ. د هر عدد لاندې دايرو کې هغه قاسم چې لومړنی عددوي وليکئ

۲۹ ۹ ۱۶ ۱۳ ۱۲ ۱۴ ۱۷ ۱۵ ۱۳

۷- د پورتني پوښتنې په پام کې نيولو سره له لاندې جملو څخه کومه يې صحيح او کومه يې غلطه ده؟ هره صحيح جمله د ( √ ) په نښه او هر غلطه جمله د (×) په نښه سره معلومه کړئ او غلطي يې روښانه کړئ.

الف: د۱۲۹ عدد لومړنی عدد دی.

ب: هر لومړنی عدد له يو څخه لوی دی.

ج: يو لومړنی عدد نه دی.

د: د ۲۱ عدد قاسمونه لومړني عددونه دي.

هـــ: هر عدد لږ تر لږه د لومړنيو عددونو يو قاسم لري.

و: له يوه څخه هر لوی عدد لږ تر لږه يو لومړنی قاسم لري.

ز: که چېرې عدد جفت وي لومړنی نه ويل کېږي.

ح: د ۳۰ عدد درې لومړني قاسمونه لري.



ketabton.com - The Digital Library

# مشترک قاسمونه او د دوویا څو عددونو تر ټولو لوی مشترک قاسم ټاکل

**هدف:** زده کوونکي وکړای شي مشترک قاسمونه او د دوویا څو عددونو تر ټولو لوی مشترک قاسم وټاکي.

د مشترک قاسم او تر ټولو د لوی مشترک قاسم د ټاکلو له پاره لاندې مثالونو ته پاملرنه کوو.

لومړی مثال: د (٦) او (١٨) عددونو د مشترک قاسمونو او تر ټولو د لوی مشترک قاسم د ټاکلو لپاره داسې کړنه کوو:

٦، ٣، ٢، ١ = د (٦) د عدد قاسمونه

١٨، ٩، ٦، ٣، ٢، ١ = د (١٨) د عدد قاسمونه

٦، ٣، ٢، ١ = د (٦، ١٨) عددونو مشترک قاسمونه

چې د (٦، ٣، ٢، ١) مشترک قاسمونو څخه د (٦) عدد تر ټولو لوی مشترک قاسم دی ځکه که چېرې د (١٨،٦)عددونه پر هغه ووېشل شي پر هغه پوره وېشل کېږي.

نو لیکلای شو چې: ٦= د (٦، ١٨) عددونو تر ټولو لوی مشترک قاسم

له دې امله د دوو یا څو عددونو تر ټولو لوی مشترک قاسم په مشترکو قاسمونو کې هغه مشترک قاسم دی چې تر ټولو لوی وي.

دوهم مثال: د (١٢، ٢٨) عددونو د مشترکو قاسمونو او تر ټولو لوی مشترک قاسم د پیدا کولو له پاره په لاندې ډول عمل کوو.

حل:

١٢، ٦، ٤، ٣، ٢، ١= د ١٢ د عدد قاسمونه

٢٨، ١٤، ٧، ٤، ٢، ١= د ٢٨ د عدد قاسمونه

٤، ٢، ١= د (١٢، ٢٨) د عددونو مشترک قاسمونه

٤ = د (١٢،٢٨) تر ټولو لوی مشترک قاسمونه



ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

د (۳٦، ۵۴) عددونو مشترک قاسمونه او تر ټولو لوی مشترک قاسم پیدا کړئ؟

**کورنۍ دنده :**

د (۱۴، ۲۰) عددونو مشترک قاسمونه او تر ټولو لوی مشترک قاسم پیدا کړئ؟

## تمرین:

د لاندې عددونو مشترک قاسمونه او تر ټولو لوی مشترک قاسم پیدا کړئ؟

۱- ۴۴ , ۲۲ , ۳۴

۲- ۳۰ , ۴۰

۳- ۵۶ , ۲۸

۴- ۲۴ , ۳۶

۵- ۵۶ , ۲۴

۶- ۴۰ , ۶۰

۷. ایا د ۴ عدد د (۱٦، ۲۰) عددونو تر ټولو لوی مشترک قاسم دی او که نه؟

۸. ایا د ۳ عدد د (۱۴، ۲٦) عددونو تر ټولو لوی مشترک قاسم دی او که نه؟



ketabton.com - The Digital Library

# د دوویا څو عددونو مشترک مضربونه او تر ټولو د کوچني مشترک مضرب ټاکل

**هدف:** زده کوونکي وکړای شي د دوویا څو عددونو مشترک مضربونو او تر ټولو کوچني مشترک مضرب پیدا کړي.

د دوو یا څو عددونو د مشترک مضرب او تر ټولو کوچني مشترک مضرب د پیدا کولو له پاره لاندې مثالونو ته پاملرنه وکړئ.

**لومړی مثال:** د (۲، ۳) عددونو د مشترک مضرب او تر ټولو کوچني مشترک د پیدا کولو له پاره په لاندې توګه عمل کوو:

حل: د مخکنیو لارښوونو له مخې لیکلی شو چې:

...، ۲۰، ۱۸،۱۶، ۱۴، ۱۲، ۱۰، ۸، ۶، ۴، ۲ = د (۲)د عدد مضربونه (اضعاف)

...، ۲۷، ۲۴، ۲۱، ۱۸، ۱۵، ۱۲، ۹، ۶، ۳ = د (۳) د عدد مضربونه (اضعاف)

لیدل کېږي چې د (۲، ۳) عددونو مشترک مضربونه ( مشترک اضعاف) عبارت دي له :

(....، ۱۸، ۱۲، ۶) او نورو عددونو څخه.

د نوموړي عددونو څخه هغه عدد چې پر (۲) او (۳) د تقسیم قابلیت او تر ټولو کوچنی د (۶) عدد دی نو د (۶) عدد ته د (۲، ۳) عددونو تر ټولو کوچني مشترک مضرب وایي.

**دوهم مثال:** د (۴، ۶) عددونو مشترک مضربونه او تر ټولو کوچني مشترک مضرب په لاندې توګه پیدا کوو:

حل: د مخکنیو لارښوونو له مخې لیکلی شو چې:

.......، ۳۶، ۳۲، ۲۸، ۲۴، ۲۰، ۱۶، ۱۲، ۸، ۴= د (۴) د عدد مضربونه.

.......، ۴۸، ۴۲، ۳۶، ۳۰، ۲۴، ۱۸، ۱۲، ۶= د (۶) د عدد مضربونه.

....، ۳۶، ۲۴، ۱۲= د (۴، ۶) د عددونو مشترک مضربونه.



ketabton.com - The Digital Library

ليدل کېږي چې د (۴، ٦) عددونو مشترک مضربونه لايتناهي دي خو د (۱۲) عدد د نورو عددونو تر ټولو کوچني مشترک مضرب دی يعني تر ټولو کوچنی عدد دی چې پر (۴، ٦) د تقسيم قابليت لري، نو ليکلی شو چې:

۱۲= د (۴) او (٦) تر ټولو کوچنی مشترک مضرب

## فعاليت:

د (٦) او (۹) عددونو مشترک مضربونه او تر ټولو کوچنی مشترک مضرب پيدا کړئ.

### کورنۍ دنده:

د (۸) او (۱۲) عددونو مشترک مضربونه او تر ټولو کوچنی مشترک مضرب پيدا کړئ.

## تمرين:

تر ټولو کوچنی مشترک مضرب (ذواضعاف اقل) د لاندې عددونو (د عددونو د اضعاف په مرسته پيدا کړئ؟

۱- ۹، ٦

۲- ۱۵، ۵

۳- ۸، ۴

۴- ۲۵، ۱۰

۵- ۲۸، ۴

٦- ۷، ۵، ۳

۷- ۱۸، ۱٦، ۱۲

۸- ايا د (۳۰) عدد د (۱۰) او (۱۵) عددونو تر ټولو کوچنی مشترک مضرب دی؟

۹- ايا د (۲۴) عدد د (۲) او (۸) د عددونو تر ټولو کوچنی مشترک مضرب دی؟



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د تقسیم په طریقه د ذواضعاف اقل پیدا کول:

هغه عددونه چې ذواضعاف اقل یې پیدا کوو په یوه کرښه کې په جلا، جلا توګه لیکو وروسته د نومړو عددونو کیڼې خواته یو عمودي خط رسموو د خط بلې خواته د نومړي عدد اولیه عددونو ته مقسوم علیه چې د مقسوم په دوو عددونو کې مشترک وي، د تقسیم عملیې ته دوام ورکوو او هر خارج قسمت د هغه د مقسوم لاندې لیکو.

هغه عددونه چې پوره نه وېشل کېږي په خپل حال ښکته کوو او د تقسیم عملیې ته تر هغو پورې دوام ورکوو چې د وروستني خارج قسمت (نوي مقسوم) په دوو عددونو کې مشترک قاسم پیدا شي.

په پای کې د خارج قسمت او دمقسوم علیه د ټولو عددونو د ضرب حاصل ذواضعاف اقل (ترټولو کوچنی مشترک مضرب) دی.

**لومړی مثال:** د (۸) ، (۵) او (۴) عددونو ذواضعاف اقل په لاندې توګه پیدا کوو:

| | |
|---|---|
| ۸ ، ۵ ، ۴ | ۲ |
| ۴ ، ۵ ، ۲ | ۲ |
| ۲ ، ۵ ، ۱ | |

نو ذواضعاف اقل: ۴۰= ۲ × ۲ × ۱ × ۵ × ۲

**دوهم مثال:** د (۵، ۱۰، ۱۲، ۱۵) عددونو ذواضعاف اقل داسې پیدا کوو:

| | |
|---|---|
| ۱۵ ، ۱۲ ، ۱۰ ، ۵ | ۲ |
| ۱۵ ، ۶ ، ۵ ، ۵ | ۳ |
| ۵ ، ۲ ، ۵ ، ۵ | ۵ |
| ۱ ، ۲ ، ۱ ، ۱ | |

نو ذواضعاف اقل:

۲×۳×۵×۲=۶۰

**دريم مثال:** د (٦٠، ٩٠، ١٥٠) عددونو ذواضعاف اقل په لاندې توګه پيدا کوو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٢ | ٦٠ | ٩٠ | ١٥٠ |
| ٣ | ٣٠ | ٤٥ | ٧٥ |
| ٥ | ١٠ | ١٥ | ٢٥ |
| | ٢ | ٣ | ٥ |

نو ذواضعاف اقل: ٩٠٠= ٢×٣×٥ × ٢×٣×٥

## تمرين:

د لاندې عددونو ذواضعاف اقل د تقسيم په طريقه پيدا کړئ؟

١- ٢٧، ١٥، ٩

٢- ٤٢، ٣٦، ١٢

٣- ٧٥، ٥، ٢٥

٤- ٧٢، ٦٤، ٥٦

٥- ٤٢، ٣٠، ١٢

٦- ١٤٤، ١٠٠، ٩٦، ٣٢

٧- ٣٨، ٣٢، ٢٤، ١٦

٨- ٤٠، ٣٥، ٣٠، ٢٥

٩- ١١٠، ٥٥، ٤٣، ٢٢



ketabton.com - The Digital Library

# پنځم څپرکی

## عام کسر او د هغه څلور ګونې عملیې

**د عام کسر پېژندنه:**

په لاندې شکل کې یو خټکی په څلورو مساوي او برابرو برخو وېشل شوی دی د دې خټکی یوه برخه په یوه بشقاب کې او درې نورې برخې یې په بل بشقاب کې ایښودل شوې دي ویلای شو چې په لومړي بشقاب کې د خټکي څلورمه برخه او په هغه بل بشقاب کې درې پرڅلور برخې ایښودل شوې دي. د لومړني بشقاب خټکی $\frac{1}{4}$ او د دوهم بشقاب خټکی $\frac{3}{4}$ لیکلای شو.

همدغو د $\frac{1}{4}$ او $\frac{3}{4}$ عددونو ته عام کسر وایي.

د $\frac{3}{4}$ په کسر کې د **۳** عدد ته د کسر صورت او **۴** ته د کسر مخرج وایي او د دواړو ترمنځ کرښې ته کسري خط وایي، د کسر مخرج څرګندوي چې یو خټکی په څو مساوي برخو وېشل شوی دی او صورت یې دا څرګندوي چې څو برخې ترې اخیستل شوې دي.



$\frac{1}{4}$



$\frac{3}{4}$

په لاندې شکلونو کې رنګ شوې برخې په کسر سره ښودل شوې دي.



$\frac{2}{5}$ برخه له شکلونو څخه مثلثونه دي



$\frac{1}{3}$ یو پر درې برخه له شکل څخه رنګ شوې ده



$\frac{2}{3}$ برخه د دایرې رنګ شوې ده



$\frac{1}{4}$ برخه د مربع رنګ شوې ده



ketabton.com - The Digital Library

۱. په لاندې هر يوه شکل کې درنګ شوو برخو کسر وليکئ.



ــــــ ــــــ ــــــ ــــــ

۲. په لاندې شکلونو کې د دايرې $\frac{۲}{۴}$ برخه د مثلثونو $\frac{۱}{۵}$ برخه، د مستطيل $\frac{۵}{۶}$ برخه

او د مربع $\frac{۲}{۳}$ برخه رنګ کړئ.



۳. تش ځايونه د مثال په څېر بشپړ کړئ.



$\frac{۵}{۵}=۱$ ــــــ ــــــ



ــــــ ــــــ ــــــ ــــــ

## د صفر سره مساوي کسرونه:

لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ.



$\frac{۲}{۳}$ $\frac{۳}{۳}$

$\frac{۰}{۳}=۰$ $\frac{۱}{۳}$



ketabton.com - The Digital Library

$\frac{۳}{۳}$ کسر ښکاره کوي چې ټول شکل تور شوی دی.

$\frac{۲}{۳}$ کسر ښکاره کوي چې د شکل دوه برخې تورې شوې دي.

$\frac{۱}{۳}$ کسر ښکاره کوي چې د شکل یوه برخه توره شوې ده.

$\frac{۰}{۳}$ کسر ښکاره کوي چې د شکل کومه برخه توره شوې نه ده . یعنې $\frac{۰}{۳}$ هغه کسر دی چې صورت یې صفر دی یعنې کسر له صفر سره مساوي دی.

۱. د هر شکل څخه د اړوند کسر سره سم برخې تورې کړی.



$\frac{۱}{۱}$ $\frac{۰}{۴}$ $\frac{۵}{۵}$ $\frac{۳}{۴}$

۲. لاندې انځورونو(شکلونو) ته پام وکړئ د رنګ شوو برخو اړوند کسرونه ولیکئ.



-.-.-.-  -.-.-.-  -.-.-.-  -.-.-.-

۳. لاندې مستطیل ته وګورئ د سمو جملو په مخکې د √ نښه کېږدئ.

| | |
|---|---|
| د مستطیل $\frac{۱}{۲}$ برخه شنه ده؟ | د مستطیل $\frac{۳}{۴}$ برخه رنګ شوې ده؟ |
| د مستطیل $\frac{۱}{۸}$ برخه شنه ده؟ | د مستطیل $\frac{۸}{۸}$ برخه رنګ شوې ده؟ |
| د مستطیل $\frac{۲}{۸}$ برخه نارنجي ده | د مستطیل $\frac{۰}{۸}$ برخه رنګ شوې ده؟ |





ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

د حل شوو مثالونو په کارولو سره په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.



$\frac{1}{5}$

د لسو $\frac{1}{5}$ برخه مساوي ده له .....

$10 \div 5 = ?$



د ۱۸ یو په دریمه برخه کولای شو چې ۱۸ په درو مساوي برخو وویشو هره برخه یې د ۱۸ یو پر دریمه له ٦ سره مساوي ده یا د ۱۸ یو پر دریمه مساوي ده له ٦ سره

یا : $18 \div 3 = 6$



$\frac{1}{4}$

د ۱۲ یو خلورمه برخه یعني څو؟

...... = ...... ÷ ......



$\frac{1}{2}$

د ۱۲ یو دویمه برخه مساوي ده له .......سره

........... = ............... ÷

**کورنۍ دنده:**

۱. د ۲۴ او ۳۲ عددونو $\frac{1}{4}$ برخه پیدا کړئ.

۲. د ۳۰ د عدد پنځمه برخه پیدا کړئ.

۳. د ۴۲ د عدد $\frac{1}{6}$ برخه زیاته ده که د ۵۶ د عدد $\frac{1}{7}$ برخه.



ketabton.com - The Digital Library

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ



د شکل کوم کسر شين رنګ لري؟

د شکل کوم کسر تور رنګ لري.

د پورتني شکل څو داني $\frac{۱}{۵}$ برخې رنګ شوې دي؟

د شکل کوم کسر رنګ شوی دی؟

## فعاليت:

۱. د حل شوو مثالونو په کارولو سره په تشو ځايونو کې مناسب عددونه وليکئ.

دوه واره $\frac{۱}{۳}$ ، $\frac{۲}{۳}$ کېږي $\frac{۴}{۵}$ يعني ۴ واره $\frac{۱}{۵}$ ۴ واره $\frac{۱}{۶}$ ، $\frac{۴}{۶}$

درې واره $\frac{۱}{۴}$ ،........کېږي $\frac{۲}{۶}$ يعني ........ ...واره $\frac{۱}{۷}$ ، $\frac{۳}{۷}$ کېږي.

۲. په لاندې شکلونو کې د حل شوو مثالونو څخه په کار اخيستنې سره د هر يوه شکل اړوند کسر وليکئ.








درې وراې $\frac{۱}{۴}$ ، $\frac{۳}{۴}$ کېږي

**کورنۍ دنده:**

په لاندې شکلونو کې د هر يوه اړوند کسر وليکئ









ketabton.com - The Digital Library

## له واحد څخه لوی کسرونه:

په هر کتار کې کیڼ لورې ته شکلونه دواحد په توګه ټاکل شوي دي اړوندو شکلونو ته چې د هر واحد په مقابل کې رسم شوي دي د حل شوو مثالونو څخه په کار اخیستنې سره مناسب عددونه ولیکئ.




د کیڼ لورې څخه په کار اخیستنې سره د هر کسر اړوند شکل رسم کړئ.



$\frac{۶}{۴}$ ، $\frac{۲}{۴}$ ، $\frac{۱}{۴}$



ketabton.com - The Digital Library

## فعالیت:

د کیڼ لورې د قطار څخه په کار اخیستنې سره د هر شکل اړوند کسر ولیکئ




